



Ketabton.com

# وخت د مسلمان په ژوند کې

## وخت

یو زوړ عمر خوړلی انځور دی. خپلو ځنګونو ته د ښاپېریو په څېر وزرې لرې، ته وا په هوا کې الوتنه پرې کوي. په یوه لاس کې یې د ساعت هینداره ده چې د نړۍ خلکو ته پرې د خپل تګ خبرداری ورکوي، او په بل لاس کې یې لور دی چې د خلکو د هیلو او ارمانونو کرونده او د ژوند شبې پرې رېبي. یا ظالم وینه تویونکی دی چې په خپل تګ کې پر چا زړه نه خوږوي. په سر یوه کوڅۍ لرې، نو هغه چې هوښیاران دي را وبه یې نیسي. د نورو کوڅۍ شاته وي، د ده کوڅۍ مخې ته ده. په دې کې نغوته دې ته ده چې تېر شوی وخت د چا لاسته نه ورځي؛ هو، هغه څوک چې خېرک او وړاند لیدونکی وي، که یې مخکې لا را تم کړي، نو تم به یې کړي.

**محمد حسین ازاد**

لیکوال: ډاکټر یوسف القرضاوي
ژباړه: ار. ایس. فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب په اړه:**


| | |
|---|---|
| **نوم:** | **وخت د مسلمان په ژوند کې** |
| **ليکوال:** | **ډاکټر يوسف القرضاوي** |
| **ژباړه:** | **آر. ايس. فراز** |
| **پاڼې:** | |
| **پای نېټه:** | **د حوت ۷، ۱۳۹۷ل.** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کور ودانی

((وخت شتمني ده)) دا خبره په اوسني ژوند کې یو عام متل ګرځېدلی؛ خو رښتیا دا دي چې دا وینا یو ناسم تاثر لېږدوي، ځکه چې دا وینا وخت ته یوازې له سوداګرۍ او مادي ژوند سره تړاو ورکوي خو وخت له دې زیات ارزښت لري. وخت زموږ د ژوند د هغو شېبو او ثانیو ټولګه ده چې له لاسه یې ورکوو او بېرته یې نه شو ترلاسه کوی. دا تصور ډېری خلکو ته دا اند ورکوي چې یوازې د نړۍ له ځلبل او ساعت تېریو خوند واخلي. خو د دې پرعکس، یو رښتینی مسلمان په دې پوهېږي چې دی په خپل ژوند کې له یوه داسې پیغام څخه برخمن دی چې باید له هغه سره سم خپل ژوند تېر کړي. که چېرته یو مسلمان د هغه پیغام له ترسراوي پرته له دې نړۍ سترګې پټې کړي، نو هغه به لویو زیانمنو څخه وي.

په دې کتاب کې، ډاکټر یوسف القرضاوي د مسلمان په ژوند کې د وخت پر ارزښت ټینګار کړی. ده د سپېڅلي قرآن او دغه راز د پیغمبر علیه السلام او د هغه د صحابوو رضي الله عنهم له ویناوو او اعمالو شواهد را ټول کړي او د خپلې خبرې پخلی یې پرې کړی او مسلمانان یې دې ته هڅولي چې د سمې لارې پیروان او لاروي شي. نوموړي په ډاګه کړې چې د هغه مقام چې اسلام وخت ته ورکړی او هغه چلند چې مسلمان یې له وخت سره ترسره کوي، تر منځ لویه تشه وجود لري. په داسې حال کې چې اسلام وخت ته درناوی لري او مسلمانان د وخت په وړاندې مسؤل ګڼي، خو مسلمانانو د وخت د بې ځایه تېرولو یوه لاره هم نه ده پرې ایښې.

په پای کې، ټولې ستاینې او مننې هغه الله لره دي چې بې د هغه له مرستې او توفیق څخه هېڅ کار هم سر ته نه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

د وخت په اړه د قرآن او حدیث لیدلوری......................١١
د وخت ځانګړنې ...............................................١٧
د وخت په وړاندې د مسلمان دنده ...........................٢٢
د انسان وخت – د پرون، نن او سبا تر منځ ................٤٧
انسان څنګه د ژوند موده اوږدولی شي؟......................٦٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر دوهم چاپ د ليكوال سريزه

له الله (جل جلا له) مننदوی یم چې په مرسته او توفیق یې د خپل کتاب ((وخت د مسلمان په ژوند کې)) د دې ګڼې پر خپراوي برلاسی شوم.

د وخت پوښتنه یوازې د نورو هغو پوښتنو په منځ کې چې مسلمان په خپل ژوند کې ورسره مخ دی، یوه پوښتنه نه ده؛ بلکې پر دې ټولو پوښتنو لومړیتوب لري. دا ځکه چې وخت له خپلو ثانیو، دقیقو، ساعتونو او ورځو سره د انسان له ټول ژوند سره مترادف او هم معنا ده.

که رښتیا ووایم، د وخت اړوند د اسلامي لیدلوري او له وخت سره د مسلمانانو چلند له یو بل سره په لوی واټن کې پراته دي. اسلام وخت ته ارزښت ورکوي او مسلمانان د خپل ژوند د هرې شېبې په وړاندې مسؤل ګڼي؛ خو مسلمانان هېڅکله هم د وخت د بې ځایه تېرولو موقع له لاسه نه ورکوي. دوی خپل وخت په قهوه خونو، دفترونو، لوبو او دې ته ورته نورو بې ګټې ساعت تېریو کې تېروي؛ او له بده مرغه، تازه څېړنې ښيي چې د اروپا یو تن وګړی د ورځې اوه ساعته کار ته ورکوي، حال دا چې یو مسلمان یوازې یو ساعت او دېرش دقیقې کار کوي.

د یوه مسلمان ژوند دود څنګه داسې کېدلی شي، هغه چې دین یې هماغه دین دی چې ورته وایي:

> (( او (د عمل) کتاب به کېښودل شي نو ته به مجرمان وګورې چې له هغه څه نه وېرېدونکي دي کوم چې په هغه (کتاب) کې دي او وایي به های زموږ بده بخته دا څنګه لیکنه ده چې (زموږ) وړه او غټه یې بې شمېرلو نه ده پرې ایښې او څه یې چې کړي وو حاضر به یې ومومي او ستا رب په هېڅ ظلم نه کوي.))
>
> (الکهف: ۴۹)

یقیناً، د مسلمانانو له ژوند سره دا ډول تګلاره وړ نه برېښي. دا ډول حالت په داسې یوه عصر کې وړ او مناسب نه شي کېدی چې لوی او زبر ځواکونه هره ثانیه د فضا او بحرونو د تسخیر په سیالۍ کې بوخت وي.

دا کتاب د وخت د فلسفې اړوند ټول اړخونه تر بحث لاندې نیسي. که څه هم دا کتاب د یوې ساینسي مطالعې ټولې غوښتنې پوره کوي، خو باید ووایو چې د دې کتاب اساسي موخه د مسلمانانو له درانده خوب څخه را ویښول او د خپل وخت د سمې کارونې او یا په ټوله کې د خپل ژوند د سم تېرولو په لور هڅونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له همدې امله دا د خوښۍ ځای دی چې د کتاب دا ګڼه په چاپ رسېږي، په دې هیله چې خپله موخه مو ترلاسه کړې وي. الله دې زموږ مرستندوی شي.**

**ډاکټر یوسف القرضاوي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړن سریزه

نوموتی فرانسوي ادیب ولټایر په خپل کتاب ((زېډګ — د برخلیک یو راز)) کې زړه راښکونکې او په زړه پورې خبرې اترې راوړې:

مېګي له زېډګ څخه وپوښتل: د نړۍ په شیانو کې هغه څه شی دی چې تر ټولو اوږد دی او تر ټولو لنډ، تر ټولو چټک دی او تر ټولو ناړامه، تر ټولو زیات وېشل کېدونکی او تر ټولو زیات له لاسه وتونکی، داسې شی چې بې له هغه هېڅ کار هم نه شي کېدی، عادي شیان له منځه وړي او غیرعادي او نادرو شیانو ته ژوند وربښي ؟

زېډګ بې له ځنډه ځواب ورکړ: وخت او بیا یې زیاته کړه: ((وخت تر ټولو اوږد شی دی ځکه د تلپاتېوالي (ابدیت) تله ده؛ له ده لنډ شی نشته ځکه زموږ هیلو او ارمانونو ته هېڅکله هم بسندویه نه وي؛ له ده ډېر ناړامه نشته، د هغه چا لپاره چې یو چا ته په تمه او هیله ناست وي؛ ډېر ګړندی ترې نشته، د هغه چا لپاره چې د خوښۍ او سوکالۍ په شېبو کې وي؛ په اوږدوالي کې تر ابدیت پورې ځان رسوي او که د لنډوالي خبره یې راشي نو د یوې ثانیې په زرګونو څه چې په میلیونونو برخو هم تجزیه کېدی شي؛ هر کس یې له پامه غورځوي او تر ټولو زیات د همدې پر ضایع کېدو افسوس هم کوي؛ له وخت پرته هېڅ هم نه شي کېدی؛ هره معمولي او عادي پېښه مخکې له دې چې راتلونکي پښت ته ورسېږي له منځه وړي او هر هغه کار ته تلپاتېوالی بښي چې په رښتیا هم ستر او لوی وي.))

د وخت پر ارزښت او د وخت په بېلا بېلو اړخونو له دې زیات څرګند بحث ته به هم لا اړتیا پاتې وي ؟ هو، وخت د انسان د ژوند تر ټولو ګرانبیه پانګه او د الله جل جلا له تر ټولو ستره پېرزوینه ده. یو عالم وایي: ((انسان د ورځو له یوې ټولګي او مجموعې پرته بل څه ده چې کومه ورځ پرې تېره شي، نو له ده هم یوه برخه بېله کړي.)) خو نن ورځ هماغسې چې د اسلامي نړۍ ستر مفکر او عالم ((ډاکټر یوسف القرضاوي)) یې پخلی کړی، تر ټولو زیات تېری پر وخت کېږي؛ که رښتیا ووایم انسان اصلاً دا واک او وس نه لري چې پر وخت تېری وکړي، بلکې که له وخت نه سمه ګټه وانه خیستل شي، نو همدا وخت دی چې بیا پر ده تېری کوي. د تصوف پلویان وایي: ((الوقتُ سیفٌ قاطِعٌ — یعنې وخت غوځوونکې توره ده.))

د وخت په اړه نورو خبرو ته به اړتیا نه وي، ټول کتاب پر همدې سکالو راڅرخي؛ دلته غواړم یو څو خبرې د دې ژباړې په هکله ولرم. علامه یوسف القرضاوي په دې کتاب کې د وخت پر بېلا بېلو لورو او اړخونو خبرې کړې؛ قرآني آیتونه، حدیثونه، د صحابوو او علماوو اقوال او اثار

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې پکې راټول کړي. نه یوازې دا بلکې د وخت پر ارزښت او معنویت يې عقلي او منطقي بحث او استدلال هم کړی او دغه راز له ساینسي او علمي لیدلوري يې هم دا مسئله راسپړلې.

کتاب مې له ژباړې مخکې – هسې چې پکار ده – یو ځل هم نه وو لوستی، بلکې کله چې په لاس راغی نو له هر څه مخکې يې عنوان او بیا يې د لیکوال نوم زما پام او توجه ور جلب کړه. خو د ژباړې پر مهال مې ولیدل چې هغه باور چې په لیکوال مې درلود، په بشپړ ډول خپل ځان ثابت کړ او پر دې پوره باوري شوم چې بې له لوستو د دې کتاب ژباړه پیلول مې یوه ناسمه خو څه چې ډېره ګټوره او غوره پرېکړه وه. په کتاب کې د وخت موضوع داسې څېړل شوې چې نور هېڅ زیاتونې ته هم پکې اړتیا نه لیدل کېده، خو په ځینو ځایونو کې پوښتنه راسره پیدا شوه چې د همدې موضوع اړوند هغه معلومات چې زما په لاسرسي کې دي، په کتاب ولې نه ور اضافه کوم، او د دې کار څو ګټې مې هم په ذهن کې وسنجولې: یو، کتاب به له معنوي او علمي اړخه بډای شي. دوه، د لوستونکو لاسته به لا زیات او څرګند معلومات ورسېږي، ځکه وخت یوه داسې موضوع ده چې څومره زیاتې خبرې پرې وشي، کمې دي؛ درې، هغه ځایونه چې لیکوال ناڅېړلي پرې ایښي، د هغه به لا زیات څرګنداوی وشي. نو له همدې امله مې په کتاب کې یو څه زیاتونې هم وکړې چې یوه بېلګه يې د کتاب په پښتنی لیدی شئ؛ د دې زیاتونو موخه پرته له نېک نیت او ارادې څخه بل څه نه وه، ځکه د ډاکټر صېب په کتاب کې زیاتونه په دې معنا نه ده چې نیمګړتیا يې لرله او ګنې زما بشپړاوي او زیاتونو ته يې اړتیا لرله! نه، هېڅکله هم داسې نه ده، ځکه د ډاکټر صېب په وړاندې د خپل مقام په اړه یوازې همدا ویلی شم چې:

نه شي د خـــانـــــانو د ملنــګو سـره کلي
چېرته عزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمن

په ژباړه کې مې تر ډېره هڅه کړې چې روان، اسانه او ساده سبک وکاروم او د قرآن کریم د آیتونو ژباړه مې له غلجي قرآن څخه کټ مټ – د املا له معیاري کولو پرته – را اخیستې او د خپلو زیاتونو فونټ مې هم د نور کتاب له فونټ څخه بېل غوره کړی. په دې کتاب کې هره ښېګڼه د احسن الخالقین ذات له لوري وګڼئ او نیمګړتیا او کمزوري يې په ما پورې اړه لري. د انسان په وده کې د نورو فکتورونو تر څنګ د نورو نېکې لارښوونې، مثبتې نیوکې او روغ انتقادات لوی رول لوبوي؛ نو له ټولو درنو لوستونکو هیله لرم چې د خپل ورور په وده او د کتاب په لا بډاینه کې پراخه برخه واخلي.

درناوی

آر. اېس. فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

له الله منندوی یم چې په توفیق یې د ښېګڼې کارونه بشپړتیا مومي، د هغه لوړ ذات درود او سلامتي دې وي په پیغمبر علیه السلام او په کورنۍ یې، صحابوو، او پر هغو چې د قیامت تر ورځې پورې یې لارویان دي.

دا کتاب چې د وخت پر ارزښت، مقام او د وخت په وړاندې د مسلمانانو د مسؤلیت پر موضوع راڅرخي، د هغه څه پایله ده چې د وخت اړوند د اسلام له ژورې لېوالتیا څخه مې زده کړي. او دغه راز د هغه څه مېوه ده چې د نېکو اسلافو په ژوند کې مې درک کړی: هغه چې د وخت د ارزښت په هکله یې ژور احساس درلود او د همدې احساس پایله وه چې یو روغ، مهذب او ګټور تمدن ترې را منځته شو.

دا کتاب د هغه څه پایله هم ده چې تر اوسه پورې مې لیدلي او همدارنګه هره ورځ یې په اسلامي نړۍ کې وینم. نن ورځ، مسلمانان خپل وخت او ژوند په داسې لارو ضایع کوي چې د ناپوهۍ له بریده تر لېونتوبه رسېدلي. او وروسته له دې چې د نړۍ له مشرۍ سره یې بلدتیا ومونده، اوس دوی په خپلې خوړتیا او زوال کې مطمئن او ډاډه پراته دي. مسلمانان نه د نورو په څېر د دې ژوند لپاره کار کوي او نه هم د راتلونکي ژوند لپاره هغسې کار کوي څنګه یې چې د دوی دین غوښتنه او تقاضا کوي. که چېرته دوی په اسلام سم ځان پوه کړي، نو دوی به د دې ژوند لپاره داسې کار وکړي لکه د تل لپاره چې همدلته اوسېږي او د آخرت لپاره به هم داسې کار وکړي لکه همدا سبا ته چې له نړۍ سره مخه ښه کوي. او دغه راز دا آیت به د خپل ژوند لارښود او څراغ وګرځوي:

> ((او له دوی ځینې داسې دي چې وایي اې زموږ خدایه! موږ ته په دنیا کې هم ښېګڼه راکړه او په آخرت کی هم او د اور له عذابه مو وساتې.))
>
> (البقره: ۲۰۱)

په همدې توګه، وخت به خامخا دوی ته لارښوونه وکړي، په دې شرط چې له خپلو عقلونو کار واخلي:

> ((د آسمانو او ځمکې په پیدایښت او د شپې –ورځې په اوښتون کې حتماً عقلمنو ته ډېرې نښې (د عبرت) دي. هماغه کسان چې په ولاړه، ناسته او اړخونو پراته الله یادوي او د اسمانو او ځمکې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پیدایښت کې سوچونه کوي چې اې زموږ ربه دا خو دې چټي نه دي پیدا کړي، تا لره (عبثیاتو نه) پاکي ده نو د اور له عذابه مو وساتې. زموږ ربه! تا چې څوك اور ته داخل کړ، نو هغه دې خوار کړ او ظالمانو لره څوك مرستندوی نشته. زموږ ربه! موږ له یو بلونکي د ایمان لور ته بلنه وا وریده چې په خپل رب مو ایمان راوړئ، نو ایمان مو راوړو، زموږ ربه نو ګناهونه راته و ښښه او بدۍ مو ورژوه او له نېکانو سره مو وفات کړه. زموږ ربه او هغه څه هم راکړې چې د خپلو رسولانو په ژبه دې موږ سره وعده کړې او د قیامت په ورځ مو مه شرموې، یقیناً ته خپله وعده نه ماتوې.))**

**(آل عمران: ۱۹۰ – ۱۹۴)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)

# د وخت په اړه د قران او حدیث لیدلوري

**قرآن او سنت وخت ته له بېلا بېلو اړخونو د ارزښت په سترګه ګوري.**

**لومړی، قرآن کریم د وخت پر ارزښت ټینګار کوي او بیا د دې حقیقت پخلی او سپیناوی کوي چې وخت د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ده. دا خبره په دې آیت کې په څرګند ډول یاده شوې:**

**((او لمر او سپوږمۍ یې درته په کار لګولي چې له قانون سره سم چلېږي او (همدارنګه) شپه او ورځ یې په کار درته لګولي. او هر څه مو چې وغوښتل هغه یې درکړل او که تاسو وغواړئ چې د الله نعمتونه وشمېرئ نو شمېرلی یې نه شئ، بې شکه چې انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دی.))**

**(ابراهیم: ۳۳ – ۳۴)**

**دغه راز بل ځای کې فرمایي:**

**((او هماغه دی چې شپه او ورځ یې یو د بل ځای ناستي وګرځول، هغه چاته چې غواړي څه درس واخلي یا غواړي شکر وېستونکی شي.))**

**(الفرقان: ٦٢)**

**دا په دې معنا ده چې الله تعالی د ورځې او شپې اوښتون د دې علت ګرځولی چې انسان ته یو فرصت په لاس ورکړي تر څو هغه څه لاسته راوړي چې ضایع کړي یې دي.**

**د دې لپاره چې د وخت ارزښت څرګند کړي، الله تعالی د ډېری سورتونو په پیل کې په بېلا بېلو وختونو قسم کړی، لکه ورځ، شپه، سهار او غرمه. د بېلګې په ډول یې په لاندې آیتونو کې لوستلی شو:**

**((قسم دی په شپه کله چې راخپره شي. او په ورځ چې روښانه شي.))**

**(الیل: ۱-۲)**

**((قسم دی په سهار. او په لسو شپو.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(الفجر: ۱-۲)**

**((قسم دی په غرمه. او په شپه کله چې له چوپتیا سره خپره شي.))**

**(الضحی: ۱-۲)**

**((قسم دی په وخت. چې انسان خامخا تاوان کې دی.))**

**(العصر: ۱-۲)**

**په هغه څه قسم کول چې پخپله یې پیدا کړي، دا معنا ورکوي چې الله تعالی غواړي د هغه څیز د لویوالي او ګټورتیا لور ته د خلکو پام واړوي.**

**د پیغمبر علیه السلام په سنتو کې هم موږ د وخت د ارزښت ستاینه او د قیامت په ورځ د الله تعالی په نزد د وخت اړوند د مسؤلیت تائید لیدلی شو. له معاذ ابن جبل نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**

**((د الله بنده به د قیامت په ورځ تر هغو ولاړ وي، تر څو پورې چې د څلورو شیانو په هکله ونه پوښتل شي: د هغه د ژوند او دا چې څنګه یې تېر کړ؛ د هغه د ځوانۍ چې څه ګټه ترې پورته کړه؛ د هغه د شتمنۍ چې له کومو لارو یې وګټله او څنګه یې ولګوله؛ او د هغه د علم چې څه ګټه یې ترې واخیسته.)) (۱)**

**کله چې هغه ګړۍ را ورسېږي، نو له هر چا څخه به د خپل ژوند په اړه عموماً او د خپلې ځوانۍ په اړه په ځانګړي ډول پوښتنه کېږي. په دې توګه، ځوانۍ – که څه هم د ژوند یوه وړه برخه جوړوي – ځانګړی ارزښت لري ځکه دا وخت د ربښتیني ژوند، هوډمنتیا او د دوو کمزورو او نازکو پړاوونو – چې یو یې ماشومتوب او بل زوړوالی دی – منځنی پړاو دی. الله تعالی فرمایي:**

**((الله هماغه دی چې تاسې یې له کمزورتیا نه پیدا کړئ، بیا یې له کمزورۍ وروسته قوت درکړ، بیایې له قوت نه وروسته کمزورتیا او زوړوالی. څه یې چې خوښه وي پیدا کوي یې او هماغه ډېر پوه قدرت والا دی.))**

**(الروم: ۵۴)**

[1] رواه البراز و الطبراني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**((د عربي ادب لويه څېره علامه جاحظ په یوه شعر کې وايي:**

**اتَــرجو ان تَــــکونَ وَ انتَ شَــــيخٌ**
**کما قـــد کُنت ایــامَ الشـــــباب**
**لقــد کذبتــکَ نفسُکَ لیــــسَ بِثوبٍ**
**دَريسٍ کالجَدید مِــن الثــّـیِاب**

**ژباړه: ایا په زړښت کې هم د ځوانۍ د ځواک او روغتیا تمه لرې. بې له شکه چې دا خو د خپل ځان تېر ایستل دي، ځکه زوړ او نوی ټوکر هېڅکله هم یو ډول نه وي.))**

**ژباړن**

***

## اسلامي عقیدې او عبادتونه د وخت ارزښت څرګندوي:

د اسلام عقاید او عبادتونه د وخت ارزښت ستايي او اهمیت ته يې غاړه ږدي. اسلامي عقاید انسان د دې جوګه ګرځوي چې په کایناتو کې د وخت مهم او ګټور رول درک کړي. وخت د لمر او ستورو په خوځښت او د شپې او ورځې په بدلون کې اړین او مهم رول لوبوي. تر دې چې ويل کېږي چې وخت د نړۍ په دوام او پرمختګ کې مهم او له ارزښته ډک عنصر دی.

وخت د مسلمانانو په ژوند کې هم اړين رول لوبوي. همدا وخت دی چې له مخې يې مسلمانان د خپلو لمنځونو سم وختونه پېژني. کله چې شپه مخه ښه کوي او د اسمان په څنډو کې د سهار لومړنۍ نښې را څرګندې شي، د مؤذن غږ د سهار د لمانځه لپاره د پاڅولو په موخه په ټوله نړۍ کې خپور شي: ((راشئ د لمانځه په لور))؛ ((راشئ د رښتيني برياليتوب په لور))؛ ((لمونځ له خوب څخه غوره دی.)) او هغه څوک چې دې غږ ته ځواب ورکړي، د شيطان ټولې غوټې يې پرانيستل شي. (۱)

---

[1] دا هغه مشهور روايت ته اشاره ده چې وايي: کله چې له تاسې يو څوک ويده شي، نو شيطان يې د سر شاتنۍ برخې ته درې غوټې ور واچوي. (رواه مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماسپښین، کله چې لمر د خپلې لوړتیا په حال کې وي او خلک په دنیوي چارو او ورځنیو کارونو کې بوخت وي، مؤذن یو ځل بیا خلک د ماسپښین لمانځه ته را وغواړي. او دا ځل خلک یو ځل بیا پاڅېږي او خپل ټول کارونه، ورځنۍ بوختیاوې او د پیسو ګټلو هلې ځلې شاته پرېږدي.

د دریم ځل لپاره مؤذن د مازدیګر د لمانځه لپاره غږ کوي، هغه وخت چې د یو شي سیورى د هغه د کتلې په اندازه وي او هغه مهال چې لمر د کوزېدو په حال کې وي.

کله چې لمر د اسمان په څنډو کې پټ شي، د ماښام د لمانځه وخت را ورسېږي او ورپسې د ماخوستن لمونځ چې په همدې ځای د یوه مسلمان ورځ پای ته رسېږي.

په دې ډول، یو مسلمان د خپلې ورځې پیل او پای دواړه په لمانځه کوي. دا په دې معنا چې د مسلمان او د هغه د خدای، د سهار او ماخوستن د لمانځه او د شپې او ورځې د اوښتون تر منځ یو منظمه اړیکه شتون لري.

د الله تعالی او د مسلمان تر منځ یو بله ځانګړې اړیکه هم شته چې په اونۍ کې یو ځل یعنې هره جمعه رامنځته کېږي. په دې ورځ مؤذن د یوه نوي او بېل لمانځه په لور بلنه کوي، داسې لمونځ چې په ګډه ترسره کېږي او خاص ځای او ځانګړې شرطونه لري. او هغه د جمعې لمونځ دی.

له دې فرضو لمنځونو ور هاخوا، شپنی نفل لمونځ هم شته چې د ښښونکي او مهربانه ذات هغه بندګان یې له سهار کېدو مخکې ترسره کوي، چې د الله تعالی د فضل او ښښنې په موندلو کې بیره کوونکي وي. دغه راز یو بل نفل لمونځ چې څاښت (اشراق/ضحی) ورته وایي، هم شته، او هغه نفل لمنځونه هم چې د ورځې په څلورویشت ساعتونو وېشل شوي.

د هرې میاشتې په پیل کې مسلمانان په خوښۍ د نوې سپوږمۍ هرکلی کوي. دوی له خدایه دعا غواړي او غوښتنه ترې کوي چې پر دوی رحم وکړي او دا نوې سپوږمۍ ورته د خوشالۍ لامل وګرځوي. دوی له دې امله د دې غوښتنه کوي تر څو د هغه لوړ ذات د پېرزوینې، ساتنې او پر هغه د ایمان د زیاتوالي او د هغه د اوامرو د پر ځای کولو لپاره له دوی سره د مرستې او توفیق لامل وګرځي.

هر کال د روژې په میاشت کې د جنت دروازې پرانیستل کېږي، د دوزخ دروازې تړل کېږي او شیطانان په زنځیرونو تړل کېږي او په همدې سپېڅلي وخت کې مؤذن (خو دا ځل له اسمان څخه) پر هغو خلکو غږ کوي چې د ښېګڼې غوښتونکي وي چې را وړاندې شئ؛ او هغه چې د بدۍ او بدګڼو غوښتونکي وي، هغوی ته وایي چې په خپلو نیتونو او ارادو بیا ځلې غور وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدې لپاره عاصي توبې وباسي، غافل متوجه کېږي او بې لارې الله ته ورګرځي؛ او ټول د هغه د خوښې غوښتونکي وي. دوی د روژو او د شپنیو لمنځونو په وسیله د الله تعالی د فضل او ډاډ لټونکي وي، کټ مټ هماغسې چې د الله پیغمبر فرمایلي:

((هر هغه څوک چې په پوره ایمان او د ثواب په نیت د روژې د میاشتې روژې ونیسي، ټول مخکیني ګناهونه به یې وبښل شي. او څوک چې د ثواب او اجر په نیت لمونځ وکړي (د روژې په میاشت کې د شپې لمونځ وکړي)، ټول تېر ګناهونه به یې وبښل شي.)) (۱)

د روژې د میاشتې له معنوي او برکتي سفر یو څو میاشتې وروسته، یو بل سفر راځي چې هم معنوي اړخ لري او هم مادي ګټې پکې نغښتې؛ او هغه د حج فریضه ده.

((د حج څو معلومې میاشتې دي، نو چا چې په هغو کې حج ( په ځان) فرض کړ نو بیا په حج کې نه کوروالی شته، نه ګناهونه او نه جنګ جګړه او کومه ښېګڼه چې کوئ الله ور باندې پوهېږي او توښه در سره واخلئ او بې شکه غوره توښه ځان ساتل (له سواله) دي او له ما ووېرېږئ، اې د عقل خاوندانو.))

(البقرة: ۱۹۷)

دا ټول عبادتونه په بشپړ او څرګند ډول د اسلافو له خوا تشریح او بیان شوي دي. هغوی پنځه وخته فرض لمونځ د ورځې میزان یا تله ګڼله، د جمعې د ورځې لمونځ یې د اونۍ تله بلله، رمضان یې د کال او حج یې د ټول ژوند تله ګڼله. په دې ډول هغوی غوښتل مسلمانان متوجه کړي تر څو لومړی خپله ورځ په ارامتیا او سوکالۍ پای ته ورسوي او بیا فکر وکړي چې په څه ډول همدا ارامتیا د اونۍ، کال او په ټوله کې د ټول ژوند په پای کې هم د ځان لپاره باوري کړي.

د پورته یادو عبادتونو تر څنګ زکات هم شته چې د اسلام له پنځو ستنو څخه ده او په هر کال او هر فصل(۲) کې فرض ده، لکه الله تعالی فرمایي:

((...او د هغه حق ورکوئ (عشر) د فصل اخیستو په ورځ...))

(الانعام: ۱۴۱)

---

[۱] رواه احمد.

[۲] دا د هغو خلکو لپاره چې شتمني او دارایي یې له ټاکلي برید (نصاب) څخه زیاته وي او یو کال پرې تېر شوی وي. (اېډيټ کوونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په دې ډول مسلمانان بايد د ټولو عبادتونو په ټاکلو وختونو کې د ترسره کولو لپاره د وخت بهير او تګلورې ته ويښ او بيداره واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲)

# د وخت ځانګړنې

وخت خپلې ځانګړې ځانګړنې لري. له وخت څخه د سمې ګټنې او کارونې په موخه باید له هغو څخه په پوره توګه خبر اوسو. دا ځانګړنې په لاندې ډول دي:

**۱ - وخت ژر تېرېږي:**

وخت د وربځو په څېر ګړندی او د هوا په څېر چټک تېرېږي. دا د وخت یو حقیقت دی، هغه که د خوښۍ او سوکالۍ ورځې وي او که د غم او خپګان ورځې. خو دا خبره د هغې نظریې نفي نه کوي چې وایي کله یو څوک خوشاله وي نو وخت پرې ژر تېرېږي، خو د خپګان او غم په وخت کې یې په زړه کې تر اوږد مهاله احساسوي.

**((یو عربي شاعر وایي:**

**تمتع بایامِ السُّرور فـــــــــانها**
**قصـارٌ و ایامُ الهـــــمومِ طـــوال**

**ژباړه:**
**د خوښۍ له ورځو ګټه پورته کړئ، ځکه دا ورځې**
**ډېـــــــــرې لنډې او د غم ورځې اوږدې وي.))**

**ژباړن**

***

دا مهمه نه ده چې انسان څومره موده ژوند کوي، د هغه ژوند به بیا هم کم وي، دا ځکه چې د هر ساکښ ژوند د هغه په مرګ پای ته رسېږي.

کله چې مرګ راورسېږي، هغه ټول کلونه او ساعتونه چې انسان تېر کړي وي، د سترګو په رپ کې په داسې شېبو واوړي لکه ټول ژوند یې چې په یوې ثانیې کې له منځه تللی وي.

په همدې تړاو د نوح علیه السلام په اړه یوه کیسه بیانېږي چې کله د مرګ پرښته له زر کاله (نهه سوه او پنځوس کاله) وروسته ورته راغله تر څو اروا ترې واخلي، نو پرښتې ترې وپوښتل چې ژوند دې څومره وموند؟ نوح ع ډېر وړوکی خو ډېر زړه راښکونکی ځواب ورکړ، ویې ویل: ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې داسې احساس کړ لکه یو کور چې دوه دروازې ولري، او ما یوازې دومره وکړل چې په یوې دروازې ور ننوتم او له بلې بېرته راووتم.

دا کیسه یوه څرګند حقیقت ته اشاره کوي – هغه دا چې ژوند د مرګ پر مهال او د قیامت په ورځ ډېر زیات کوچنی ښکاري. الله تعالی فرمايي:

((کله چې دوی یې ووینې نو لکه یو ماښام یا یو سهار نه پرته چې نه وي ځنډېدلي.))

(النازعات: ۴٦)

((او په کومه ورځ یې چې را غونډ کړي نو لکه چې دوی د ورځې له کوم ساعت پرته زیات نه وو ځنډېدلي چې خپلو کې سره وپېژني...))

(یونس: ۴۵)

## ۲- تېر شوی وخت نه بېرته راګرځي او نه بدیل لري:

وخت د جبران وړ نه دی او دا په ساده ټکو کې په دې معنا ده چې هېڅ شی هم د وخت بدیل او عوض نه شي کېدی. دا خبره حسن بصري په څرګند ډول واضح کړې، دی وايي: ((د هرې ورځې په پیل کې غږ کوونکی اعلان کوي، اې د آدم بچیه، زه نوې پیدا کړی شوې یم او زه ستا پر کړنو شاهد یم. نو له ما ګټه واخله ځکه زه چې یو ځل تېره شم، بیا د قیامت تر ورځې پورې بېرته نه راګرځم.))
له همدې امله موږ شاعران او لیکوالان وینو چې زوړوالي ته له رسېدو وروسته د ځوانۍ د بېرته راګرځېدو ارمانونه کوي، خو له بده مرغه، د دوی دا ارمان هېڅکله هم نه شي پوره کېدی.

***

په دې هکله مو د رحمان بابا دې شعر ته پام غواړم:

**تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی**
**مړ چا نه دی ژوندی کړی په ژړا**

**ژباړن**

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

## ۳- وخت د انسان تر ټولو ګرانبیه شتمني ده:

پورته د وخت اړوند یادې ټولې ځانګړنې په څرګند ډول دې ته نغوته ده چې وخت د انسان تر ټولو ګرانبیه او ارزښتناکه شتمني ده. دا ځکه چې وخت د هغه کوهي په څېر دی چې هر هغه څه په ځان کې زېرمه کوي چې انسان يې ترسره کوي او ور اچوي، او بیا همدا د هغه د ژوند رښتینې پانګه ګرځي.

وخت یوازې سره زر نه دي، لکه په متل کې چې راځي؛ ځکه وخت له سرو زرو، ملغلرو، غمیو او نورو ګرانبیه فلزاتو او تیږو څخه ډېر قیمتي او ګرانبیه دی. حسن البنا د وخت په هکله وايي: ((وخت ژوند دی! د انسان ژوند له هغه وخت پرته بل څه نه دی چې د زوکړې له شېبې څخه یې د مرګ تر ګړۍ پورې تېر کړی وي.))

((**یو عالم وايي: وخت ارزښتناکه شی نه دی، بلکې یو بېل او ځانګړی شی دی. ځکه هر ارزښتناکه شی یوه بیه او ارزښت لري. ژباړن**))

د حسن البنا یوه بله وینا ده چې انسان د ورځو له یوې ټولګې پرته بل څه نه دی او کله چې یوه ورځ تېره شي، نو له ده څخه هم یوه برخه بېله کړي.

وخت به راشي چې هغه خلک به چې د وخت له ارزښته يې مخ اړولی، دا احساس کړي چې وخت څومره قیمتي او ارزښتناکه دی. خو له بده مرغه چې پر دوی به ډېره ناوخته شوې وي او په دې اړه به هېڅ هم نه شي کولی. په قرآن کریم کې دوه حالتونه داسې یاد شوي چې په هغو کې به انسان د وخت په بې ځایه تېرولو باندې پښېماني ښکاروي:

**لومړی حالت**: انسان به هغه مهال د وخت په ارزښت پوه شي چې کله د مرګ خولې ته ورسېږي. په دې ستونزمن وخت کې به دی د یوه بل وار لپاره زارۍ کوي او د دې هیله به کوي چې مرګ يې د یوې لنډې مودې لپاره نور هم وځنډول شي، دی به د هغه څه د رغولو لپاره چې ویجاړ کړي یې وي او د یو ښه کار د کولو لپاره چې له لاسه يې ورکړی وي، په چیغو چیغو د یوې ثانیې فرصت غواړي.

په دې تړاو سپېڅلی قرآن فرمايي:

((اې مؤمنانو! خپل مالونه او خپلخانې مو د الله له یادولو غافل نه کړي او څوك چې داسې کوي نو هماغه خلك (اصلی) تاوانیان دي. او

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه چې موږ در روزي کړي، له هغو نه (د الله دپاره) لګښت وکړئ، تر هغه ړومبی چې ستاسو کوم یوه ته مرګ راشي (او) بیا وایي چې زما ربه ولې دې څه لږ نېټې پورې ونه ځنډولم چې زه خیرات ورکړم او له نېکانو څخه شم؟))

(المنافقون: ۹-۱۰)

خو د دې بې معنا او پوچ ارمان ځواب یوه سخته او وروستۍ پرېکړه ده، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

((او الله به هېڅکله یو کس وروستی نه کړي، کله چې اجل یې راشي او الله ستاسې په کړو وړو ښه خبر دی.))

المنافقون: ۱۱)

**دوهم حالت**: انسان به د وخت ارزښت همدارنګه په آخرت کې هم احساس کړي، هغه مهال چې هر چا ته د هغه له کړو وړو سره سم جزا یا سزا ورکول کېږي، هغه وخت چې نېکان به جنت ته ننوځي او د بدانو ځای به د جهنم اور وي. یوازې هماغه وخت به دوزخیان دا هیله وکړي چې یو ځل بیا خپل تېر ژوند ته ورستانه شي تر څو نېک کارونه ترسره کړي او د ښېګڼو څښتنان شي. خو افسوس، دا هېڅکله هم امکان نه لري، دا ځکه چې هغوی په خپل لېونتوب کې د ښه کېدو وار له لاسه ورکړی او اوس د دوی د سزا وخت را رسېدلی دی.

الله تعالی فرمایي:

((او څوك چې کافر شوي د هغو دپاره د جهنم اور دی، نه به ورباندې حکم کېږي چې مړه شي او نه به یې څه عذاب ترې سپکېږي، هر ناشکره ته موږ همدا ډول سزا ورکوو. او دوی به پکې چیغې وهي چې اې زموږ ربه! موږ وباسه چې ښه کارونه وکړو، هغسې نه چې موږ به کول (وبه وېلی شي) آیا موږ دومره عمر نه وو درکړی چې (که) څوك پکې څه درس اخلي، درس اخیستلی شي او وېروونکی هم درغلی وو، نو اوس یې (خوند) وڅکئ، د ظالمانو دپاره څوك مرستندوی نشته.))

(فاطر: ۳۶-۳۷)

د هغوی دا ادعا به په دې ځورونکې پوښتنې وځپل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**((...آیا موږ دومره عمر نه وو درکړی چې (که) څوك پکې څه درس اخلي، درس اخیستلی شي او وېروونکی هم درغلی وو...)) (۱)**

**په دې توګه الله جل جلا له انسان ته د هېڅ ډول بانو او پلمو لار نه ده پرې ایښې تر څو هغه ته نور وخت هم ورکړي چې د هغه اوامر پکې ترسره کړي او د هغه له منع کړو شیانو ځان وساتي. دلته د هغو خلکو یادونه موخه نه ده چې شپېته کاله ژوند یې کړی وي، دا ځکه چې هغوی د هوښیارېدو او ویښتیا، د سمې لارې د موندلو او توبې ویستلو لپاره پرېمانه فرصتونه لرلي دي. پیغمبر علیه السلام فرمایي:**

**((الله د هغه انسان پلمه نه مني چې هغه (الله) ورته شپېته کاله عمر ورکړی وي.)) (۲)**

[1] فاطر: ۳۷

[2] رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

# د وخت په وړاندې د مسلمان دنده

که وخت دومره مهم وي لکه وړاندې مو چې بحث پرې وکړ چې پخپله له ژوند سره هم معنا ګڼل کېږي، نو بیا انسان د خپل وخت په وړاندې ډېر زیات مسؤلیتونه او دندې لري. دی باید پر دې دندو وپوهېږي او دا پوهه په عقیده او باور واړوي او بیا همدا باور او عقیده په عمل او لاسته راوړنې بدل کړي.

## له وخت څخه د ګټې لپوالتیا:

د مسلمان د خپل وخت په وړاندې تر ټولو لومړنۍ دنده دا ده چې باید ښه ساتنه یې وکړي، کټ مټ هماغسې لکه د خپلې شتمنۍ ساتنه چې کوي او یا له هغې هم زیات؛ او په داسې لارو کې یې وکاروي چې د ده او د خپل امت دواړو لپاره یې ګټور او مفید وي.

دا ځکه چې اسلاف (رحمهم الله تعالی) د وخت د ارزښت په اړه تر بل هر چا ښه پوهېدل، هغوی له وخت سره د چلند په برخه کې له هر چا زیات احتیاط کوونکي وو. دا د حسن بصري په خبرو کې له ورایه برېښي، هغه وایي چې له داسې خلکو سره مخ شوی یم چې د خپل وخت ساتنه یې له هغه زیاته کوله چې نن ورځ یې موږ د خپلو شتمنیو کوو.

همدا لامل دی چې داسې خلک د خپل وخت سمې کارونې ته په خاصه توګه لېواله وو او هېڅکله یې هم بې ځایه نه تېراوه، لکه عمر بن عبد العزیز وایي: ((یقیناً، شپه او ورځ په تا کې کار کوي، نو ته په هغو کې کار وکړه.))

هغوی به ویل چې د وخت بې ځایه تېرول له وخت سره د کرکې نښه ده او دغه راز په دې باور وو چې وخت د تورې په څېر دی: که یې ته غوڅ نه کړې، نو وخت به تا غوڅ کړي. دغه اند او باور دوی تل هڅول تر څو د ځان د ودې لپاره زیار وباسي. هغوی باور درلود چې: هغه څوک چې نن یې د پرون په څېر دی، غمجن او ویر لړلی دی؛ خو هغه څوک چې نن یې له پرون څخه بدتره دی، بدمرغه او بدبخته دی.

هغوی دومره محتاط وو چې یوه ورځ، تر دې چې د ثانیې یوه وړه برخه یې هم نه پرېښوده چې بې ګټې تېره شي، یا به یې په ګټور علم کې تېروله، یا به یې ښه کارونه کول، یا به یې د خپلو خواهشاتو پر وړاندې مبارزه کوله، او یا به یې هم نورو ته ښېګڼه رسوله. هغوی تل له دې وېرېدل چې وخت به ترې بې ګټې تېر شي او دوی به یې په اړه خبر هم نه لري. دا حقیقت د ابن مسعود رضي الله عنه له دې وینا ډېر ښه څرګندېږي، دی وایي: پر هېڅ شي کله دومره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یم پښېمانه شوی، لکه پر هغې ورځې چې تېره شوې وي او ما ترې ګټه نه وي اخیستي. او یو بل عالم وایي: زما هغه ورځ بې ځایه تېره شوې چې ما پکې داسې علم نه وي ترلاسه کړی چې الله جل جلا له ته یې ور نږدې کړی اوسم. دغه راز یو هوښیار وایي: هر هغه څوک چې یوه ورځ بې له دې تېره کړي چې ګټه ترې پورته کړي، یقیناً ځان یې تېر ایستی دی.

خو نن ورځ چې مسلمانان په څه ډول د وخت په بې ځایه تېرولو وینو، زړونه مو له غم او خفګان څخه ډکېږي. په حقیقت کې د وخت بې ځایه تېرول، د شتمنۍ او دارایۍ له بې ځایه لګولو ډېر زیانمن او خطرناک دی، دا ځکه چې د شتمنۍ پر عکس د وخت عوض او بدیل هېڅکله نه شو موندی.

یوه هغه جمله چې موږ یې نن سبا هر چېرته اورو، هغه ((د وخت وژنه)) ده. موږ وینو چې خلک ساعتونه ساعتونه ناست وي، هېڅ هم نه کوي مګر په نرد، شترنج او تاش کولو بوخت وي. هغوی اصلاً په دې فکر نه کوي چې دا ډول وخت تېرول یې سم کار دی او که ناسم. دوی په بشپړ ډول له خپلو دیني وجایبو او دندو غافل وي او یوازېنۍ بوختیا یې د وخت وژل وي. دا ډول خلک د خواخوږۍ او مرستې وړ دي، ځکه دوی له دې ناخبره دي چې د وخت په وژلو، دوی پخپله خپل ځانونه وژني. نو، د وخت وژل د ځانوژنې په څېر ده او داسې یوه سرغړونه ده چې د ټولو خلکو په مخکې ترسره کېږي، خو هغه خلک چې دا سرغړونه ترسره کوي، بالکل نه غندل کېږي، ځکه چې خلک په دې نه پوهېږي چې دا جرم څومره ستر او ښایي بدتر دی، او په ټوله کې دوی اصلاً د دې شعور نه لري چې یوه ناسمه کړنه ترسره کوي.

## د اوزګار وخت سمه کارونه:

فارغ او اوزګار وخت یو داسې نعمت دی چې ډېری له پامه غورځول کېږي او ډېری خلک ترې استفاده نه کوي، څنګه چې پیغمبر علیه السلام فرمایي:

> ((د الله تعالی دوه نعمتونه دي چې ډېری خلکو هېر کړي: شتمني او اوزګار وخت.)) (۱)

له اوزګار وخت څخه موږ له دنیوي کارونو څخه د اوزګارتیا معنا اخلو چې دا کار مو په ټوله کې د راتلونکي ژوند په اړه له فکر او اندېښنې څخه راګرځوي. دا خبره له هغو اسلامي احکامو سره تضاد نه لري چې انسان د خپل ژوند لپاره کار کولو ته هڅوي. انسان باید کار وکړي، خو دې

[1] رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ته يې بايد پام وي چې هېڅ کار يې هم د الله له خوا د ور له غاړې احکامو څخه را ونه ګرځوي او د ژوند د خوښيو او غوښتنو کندې ته يې ور ونه غورځوي.**

**له همدې کبله، دا په اصل کې د دين او دنيا تر منځ د انډول رامنځته کولو مسئله ده او دا انډول او توازن دا ښېلګه په ښه ډول څرګندوي: دلته يو داسې کس چې د الله اوامرو ته ژمن او ولاړ وي له يوه داسې سوداګر سره پرتله کېږي چې شتمني او اوزګار وخت يې ټوله پانګه او د بريا د لاسته راوړو او ګټې کولو وسايل دي. نو له دې ښېلګې څخه څرګنده ده چې هر هغه څوک چې د الله تعالی احکامو ته غاړه ږدي، په ګټه کې دی او هر هغه څوک چې له شيطان سره معامله کوي خامخا به خپله پانګه له لاسه ورکوي او زيانمن به وي.**

**په يوه بل حديث کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:**

> **((پنځه شيان له پنځو نورو مخکې وکاروه... او هغه مبارک د همدې پنځو شيانو تر منځ دا هم ياد کړل چې: خپل اوزګار وخت مخکې له بوختيا څخه.)) (۱)**

**دا په دې معنا ده چې فارغ وخت به د تل لپاره نه وي، ځکه ډېر ژر به د وخت دا تشه په ښو يا بدو کارونو ډکه شي. هغه څوک چې په نېکيو او تقوا يې ډکه کړي، بريالی دی؛ او هغه چې په ناروا چارو او سرغړونو يې ډکوي، بدمرغه دی.**

**ځينې صالحين وايي چې فارغ وخت يوه ستره لوړبينه ده، که يې انسان د خپلو بې واګو خواهشاتو په لاس کې ورکړي، نو الله به يې له هغې تقوا او سپېڅلتيا بې برخې کړي چې په زړه کې يې لري.**

**يو عالم وايي چې دا د ستر خپګان ځای دی چې له هر ډول بوختياوو اوزګار اوسې او بيا هم د الله جل جلا له په لور ور ونه دانګې.**

**صالحو اسلافو به له هغو خلکو کرکه کوله چې بوختيا به يې نه لرله ځکه اوزګار وخت رحمت په زحمت بدلوي. په دې ځای کې سړي او ښځې دواړه برابر دي ځکه که چېرې اوزګار وخت سړي بې لارې کولی شي، نو دا شی ښځې هم پر ناروااو اخته کولی شي او دا د يوسف عليه السلام له کيسې ډېره ښه څرګندېږي. د يوسف د بادار ښځه پر ده مينه وه او له بېلا بېلو لارو يې هڅه کوله چې د هغه مينه لاسته راوړي، خو په دې موخه کې پاتې راغله. هغه خپل له اسانتياوو او هوساينو ډک ژوند دې کار ته لمسولې وه او له دې له ورايه برېښي چې فارغ وخت**

---

۱ رواه الحکيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مهال لا زيات خطرناک شي چې کله يو څوک ځوان وي، جنسي خواهشات يې زيات او د داسې خواهشاتو د پوره کولو لپاره يې پيسې هم په لاس کې وي.

**ښو کارونو ته بيړه**:

د ښو مسلمانانو، هغه چې د وخت ارزښت پېژني او پر اهميت يې پوهېږي، لپاره دا اړينه او لازمي ده چې تر خپله وسه خپل وختونه له ښو کارونو ډک کړي. له دې کار سره بايد د غفلت چلند ونه شي او نه هم له يوې ورځې نه بلې ورځې ته وغځول شي.

ځيني هغه دعا ګانې چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم مسلمانانو ته سهار او ماښام د کولو لپاره ښودلي، دا ښيي چې اسلام تنبلي او سستي ته څومره د کرکې په سترګې ګوري. د بېلګې په ډول، دی مبارک په يوې دعا کې فرمايي:

((اې الله، له غم او خپګان څخه تا ته پناه در وړم او له تنبلۍ او معلولتيا څخه ستا د پناه غوښتونکی يم.))

له همدې امله قرآن عظيم الشان مسلمانانو ته امر کوي چې مخکې له دې چې په کوم بل کار يا دنده بوخت شئ، د ښو کارونو په لور بيړه وکړئ:

((او هر چا ته يو لوری دی چې هغه مخ ورګرځوونکی دی نو تاسو په ښېګڼو کی سيالي کوئ، هر چېرته چې ياستئ، ټول به الله راولي، بې شکه الله په هر څه وسي دی.))

(البقرة: ۱۴۸)

الله سبحانه و تعالی همدا رنګه فرمايي:

((او که الله غوښتي وای نو تاسو ټول به يې يو امت ګرځولي وای خو د دې لپاره (يې داسې وکړل) چې په هغه څه کې مو و ازمايي چې درکړي يې دي، نو په ښېګڼو کې يو له بله وړاندې شئ د الله لور ته ستاسو ټولو ستنېدل دي بيا به مو په هغه څه خبر کړي چې پکې مو شخړه کوله.))

(المائدة: ۴۸)

په يو بل ځای کې الله جل جلالا له د جنت لپاره د مسلمانانو د لېوالتيا حس پياوړی کوي او فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((او د خپل رب د بښنې او هغه جنت په لوري بیړه وکړئ چې پلنوالی
یې (لکه) اسمانونه او ځمکه ده، متقیانو ته چمتو شوی.))

(آل عمران: ۱۳۳)

او په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایي:

((رامنډه کړئ د خپل رب د بښنې او هغه جنت په لور چې پلنوالی
یې د آسمان او ځمکې د پلنوالي غوندې دی...))

(الحدید: ۲۱)

په دې ډول الله تعالی په خپل کتاب کې د جنت او بښنې په لور د سیالۍ او وړاندې کېدو هڅونه کوي. یا په بل عبارت، د ایمان، تقوا، بښنې او نېکو کارونو په لور هڅول کوي، ځکه همدا هغه وسایل دي چې د هغه رحم، لورېینې او بښنې ته مو ور رسوي. په دې چارو کې سیالي ستایل شوې او خوښ عمل بلل شوی، ځکه الله تعالی فرمایي:

((چې مهر به یې مښک وي. او سیالي کونکي دې په همدې کې سیالي
وکړي.))

(المطففین: ۲۶)

هغه لوړ ذات خپل ځینې ځانګړي پیغمبران او استازي هم ستایي، فرمایي:

((بې شکه هغوی (ټولو) په نېکیو کې بیړه کوله او موږ یې (د ثواب)
په مینه او (له عذاب نه) په وېره ور بللو او خاص موږ ته غاړه
اېښودونکي وو.))

(الانبیاء: ۹۰)

په همدې ډول، الله سبحانه و تعالی په یوه بل آیت کې خپل رښتیني او نېک بندګان د ستاینې په ټکو یادوي، فرمایي:

((په الله او وروستۍ ورځ ایمان راوړي، دښېګڼو امر کوي، له بدیو
ایسارول کوي، په ښو چارو کې بیړه کوي او همدا دوی د صالحانو له
ډلې دي.))

(آل عمران: ۱۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بل خوا بیا الله تعالی منافقان غندلي او رټلي دي، فرمایي:

((...او کله چې لمانځه ته پاڅېږي نو په لټۍ سره پاڅېږي...))

(النساء: ۱۴۲)

په یوه بل آیت کې یې الله تعالی په هکله فرمایي:

((...او لمانځه ته نه راځي مګر په لټۍ (زړه نا زړه) او خیرات نه کوي
مګر په ناخوښۍ سره.))

(التوبة: ۵۴)

دغه راز پیغمبر علیه السلام به هم خلک مخکې له دې چې له کوم خنډ یا ناوړه حالت سره مخ شي، ښو کارونو ته د وړاندې کېدو په پار هڅول او تشویقول، دی مبارک فرمایي:

((آیا تاسې یوازې بډاینې ته سترګې په لار یاستئ چې د ظلم په لور
مو ټېل وهي؛ بې وزلي ته چې له بې وسۍ سره مو مخ کوي او ناروغۍ
مو له منځه وړي؛ زوړوالي ته چې د لېونتوب لار در ښیي او مرګ ته
مو ور نږدې کوي او دغه راز دجال ته: او دجال اوس نشته، یو
راتلونکی کړاو دی؛ او یا د قیامت ورځ ته، هغه ساعت چې تر ټولو
زیات تریخ او غم لرونکی به وي.)) (۱)

## د وخت تېرېدا ته پاملرنه:

مؤمن باید غافل ونه اوسي چې شپې او ورځې یې د سترګو په وړاندې تېرې شي. پکار ده چې په دې اړه فکر وکړي چې شپې او ورځې په څه ډول نوي زاړه کوي، لرې را نږدې کوي، ژوند ته د پای ټکی ږدي، ځواني په زړښت بدلوي او زاړه ورستوي.

نو، د یوه مسلمان په وړاندې باید شپې او ورځې بې هدفه وا نه وړي او نه وخت پرې داسې تېر شي چې ګټه یې ترې نه وي پورته کړې او هڅه یې نه وي کړې چې درس او عبرت ترې واخلي. هر ساعت یا هره شېبه د نړۍ په ښېلا ښېلو برخو کې بې شمېره پېښې رامنځته کېږي. ځینې پېښې د پوهېدو وړ وي، خو ځینې بیا نه وي. په هره شېبه کې د ښېلا ښېلو حالتونو او شرایطو خلک هدف ګرځي: ځینې له بې وزلۍ شتمن کېږي، ناروغ خپله روغتیا بیامومي، خپګان پر خوشالۍ بدلېږي او ستونزې خپل ځای هوساینې او سوکالۍ ته پرېږدي. دا یوازې هغه څوک وینې چې

---

[1] رواه الترمذي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوښيار وي او په نړۍ کې د رامنځته کېدونکو پېښو مخنيوی کولی شي يا ترې ګټه اخيستی شي او هغه څوک چې د وخت له تېرېدو سره سم د يو نوي څه د زده کولو وړتيا لري. خو هغه چې شيانو ته د ځير کېدو له وړتيا بې برخې وي، هېڅکله به هم د دې جوګه نه شي چې له وخت څخه يو څه زده کړي ځکه د دوی لپاره د شپې او ورځې اوښتون بې معنا او بابيزه دی. دا حقيقت د الله تعالی په آيتونو کې په ښه توګه څرګند شوی، فرمايي:

((د آسمانو او ځمکې په پيدايښت او د شپې ورځې په اوښتون کې حتماً عقلمنو ته ډېرې نښې (د عبرت) دي.))

(آل عمران: ۱۹۰)

په يوه بل آيت کې الله رب العزت فرمايي:

((الله شپه او ورځ (سره) اړوي بې شکه په دې کې د سترګورو دپاره يو (لوی) درس دی.))

(النور: ۴۴)

## د وخت مديريت:

يو مسلمان بايد په دې پوه وي چې خپل وخت څنګه منظم کړي او پکار ده چې د خپلو دنيوي او ديني چارو لپاره په دې هيله رښتينی پلان او مهالوېش جوړ کړي چې دنيوي چارې يې د ديني فرايضو له پولو وا نه وړي. په دې معنا چې دی بايد په دې پوه وي چې په څه ډول خپل لومړيتوبونه وټاکي: تر ټولو مهم او تر ټولو اړين کار بايد لومړی ترسره شي او بايد له مهالوېش سره سم مخکې يو وړل شي.

د همدې يوه برخه نبي کريم عليه السلام د ابراهيم عليه السلام له صحايفو روايت کړې، په دې کې راځي:

((يو عاقل انسان – چې لېونی نه وي – بايد څلور ساعته ولري: يو ساعت بايد د خپل خدای (عبادت) ته ورکړي؛ يو ساعت د خپلو اعمالو محاسبه وکړي؛ يو ساعت د الله تعالی په مخلوق کې په غور کولو تېر کړي او يو ساعت د خپل خوراک او څښاک د اړتيا په بشپړولو کې ولګوي.)) (۱)

---

[1] رواه ابن حبان و الحکيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا مهالوېش د هغو خلکو لپاره دی چې د خپل وخت تنظیم ته تر ټولو زیاته اړتیا لري او ډېرې زیاتې دندې او پرېمانه مسؤلیتونه ور له غاړې وي او په هکله یې فکر او اندېښنه لري. د دوی ژوند تر دومره بارونو لاندې وي چې د خپلو کارونو لپاره یې د لا زیات وخت غوښتنې احساس ته اړ کوي.

د وخت مدیریت په ځان کې د آرام او تفریح لپاره هم وخت رانغاړي، ځکه دا حقیقت دی چې زړه او دغه راز بدن له پرلپسې کار وروسته ستړی او ستومانه کېږي او تفریح ته ژوره اړتیا لري.

همدا لامل دی چې موږ باید وخت په وخت دمه او تفریح وکړو؛ خو دا تفریح هم باید د روا بریدونو دننه ترسره شي. حضرت علي رض په څرګند ډول ویلي چې زړه باید وخت په وخت دمه او تفریح وکړي، که داسې ونه شي او هر وخت په کار بوخت وساتل شي، هله بیا زړه ړندېږي.

نو مسلمان باید د ناسمو او بې ځایه بوختیاوو له امله خپل ځان، کورنۍ او ټولنې ته زیان ونه رسوي او خپلې اساسي دندې له پامه ونه غورځوي. او دا شرط د هغه مهال لپاره هم دی چې کله دی خپل ځان د خدای په عبادت کې ستومانه کوي.

له همدې کبله پیغمبر علیه السلام خپلو صحابوو ته چې د شپې له خوا په ده مبارک پسې د لمانځه کولو لپاره را ټول شوي وو، وویل:

> ((هغو کارونو ته اوږه ورکړئ چې زغملی یې شئ، ځکه الله هېڅکله هم نه ستومانه کېږي خو تاسې به ستومانه شئ؛ او الله ته تر ټولو خوښ عمل هغه دی چې تلپاتې وي، که څه هم لږ وي.)) (۱)

په یو بل ځای کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

> ((بې له شکه د اسلام دین د آسانۍ دین دی او څوک چې په خپل ځان باندې دین سخت کړي ارومرو مغلوبېږي او بیا نه شي کولی چې په همدې ډول دوام ورکړي. نو باید په دین کې له حده تېری ونه کړئ، بلکې د بشپړتیا په لور هڅه وکړئ او غوره ثواب او اجر ترلاسه کړئ.)) (۲)

---

[1] رواه البخاري و مسلم.

[2] رواه البخاري و النسايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پيغمبر عليه السلام هغو کسانو ته لارښوونه وکړه چې په قرآن کريم لوستلو، د شپې په لمانځه، روژې نيولو او په عاجزۍ کې يې له بريده تېرى کاوه، نبي کريم عليه السلام فرمايي:**

**((يقيناً بدن مو پر تاسې حق لري، ښځې مو پر تاسې حق لري او مېلمانه مو پر تاسې حق لري.)) (۱)**

**رسول الله صلى الله عليه وسلم يو ځل هغو صحابوو ته چې په رهبانيت او د دين په کارونو کې يې له سمو او مناسبو بريدونو تېر کړى وو، وفرېل:**

**((بې له شکه، زه په تاسې کې له الله زيات وېرېدونکى او پر دين پوه يم، زه قيام(د شپې لمونځ) هم کوم او خوب هم کوم، روژه هم نيسم او پرېږدم يې هم او له ښځو سره نکاح هم کوم، نو هر هغه څوک چې زما له سنت څخه مخ اړوي، زما له امت څخه نه دى.)) (۲)**

**دا له همدې کبله ده چې اسلام انسان ته اجازه ورکوي چې د ژوند له رنګينيو او هوساينو د خپلو روا بريدونو په داخل کې خوند واخلي. همدا لامل دى چې کله پيغمبر عليه السلام د خپل يوه صحابي حنظله رض په اړه واورېدل چې له دې امله د منافقت تور پرې لګېدلى وو چې د پيغمبر عليه السلام په مخکې به يې يو ډول او د خپلې کورنۍ په وړاندې بل ډول. نو پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل:**

**((اې حنظله! که ته په هماغه حالت پاتې شې چې زما په وړاندې يې، نو پرښتې به سلام درباندې وايي، خو اې حنظله يو يو ساعت.)) (۳)**

**په حديث کې له يو يو ساعت نه مراد دا دى چې يوه ګړۍ د خپل خداى او يوه ګړۍ د خپل زړه لپاره.**

**الأسمايي وايي چې يوه اعرابي ښځه مې وليده چې په لاس کې يې تسپې نيولې وې، او په ورته وخت کې يې سينګار هم کاوه. نو ورته ومې ويل: ((څنګه داسې يو کار کولى شې؟)) يعنې په دې ښځې مې ګمان وکړ چې دا به له هغو ښځو وي چې الله يې هېر کړى، د ښايستوالي او زړه راښکلتيا ښځه به وي. خو د هغې ښځې ځواب ډېر لنډ او له هوښيارۍ ډک وو، ويې ويل: ((الله تعالى پر ما حق لري او زه هېڅکله هم له دې حق څخه مخ نه اړوم، او د تفريح او ساعت تېرې**

---

[۱] رواه البخاري.
[۲] رواه البخاري.
[۳] رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره هم فارغ وخت راکول شوی.)) الاسمایي وايي چې د هغې له خوب څخه پوه شوم چې هغه یوه صالحه او ربښتينې ښځه وه، چې يو مېړه يې درلود او د هغه لپاره يې سينګار کاوه.

## هر کار خپل وخت لري:

یو غوره مسلمان باید په دې پوه وي چې کوم کار د زړه، ژبې او د بدن د هر غړي د هوساینې له مخې له کوم وخت سره ښه سمون خوري. په بل عبارت، دی باید د سم کار لپاره سم وخت وپېژني، څکه دا به يې د دې جوګه کړي چې د هغه کار په ترسره کولو کې له خپل ټول وس او توان څخه کار واخلي او دغه راز د الله تعالی له مرستې او توفيق څخه به هم برخمن وي.

د دې معنا په هغې لارښوونې کې ښه څرګنده شوې چې ابو بکر رض، عمر رض ته وکړه کله چې عمر رض غوښتل چې په خلافت کې له ابو بکر رض نه مخکيوالی وکړي. ابو بکر رض ورته وويل: پوه شه اې عمره! چې د ورځې احکام به ونه منل شي که د شپې له خوا ترسره شي او پوه شه چې د شپې عبادات به قبول نه شي، که د ورځې له خوا ترسره شي.

نو دا د يوه کار په هر وخت کې د کولو وصيت نه، بلکې د يوه کار په خپل سم وخت کې د کولو ترغيب دی. له همدې کبله الله تعالی د ديني اوامرو د ترسره کولو ځينې ځانګړي وختونه غوره کړي چې باید بابېزه تېر نه شي. د بېلګې په ډول د لمنځونو په هکله الله تعالی فرمايي:

((... بې شکه لمونځ په ټاکلو وختو کې پر مؤمنانو فرض دی...))

(النساء: ۱۰۳)

د روژې په هکله الله تعالی فرمايي:

((... نو تاسو نه چې څوك دا مياشت بيامومي، هغه دې روژه ونيسي...))

(البقرة: ۱۸۵)

د حج په اړه الله تعالی فرمايي:

((د حج څو معلومې مياشتې دي...))

(البقرة: ۱۹۷)

او د زکات په هکله الله سبحانه و تعالی فرمايي:

((...او د هغه حق ورکوئ (عشر) د فصل اخيستو په ورځ...))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(الانعام: ۱۴۱)

د زړه او ژبې اعمال هم باید په ټاکلو وختونو او سمو ځایونو کې ترسره شي.

یو هوښیار وایي چې هر کس له څلور ډوله تجربو سره په څلورو بېلا بېلو وختونو کې مخ کېږي. پر هغه د خوښۍ؛ ستونزې او کړاو؛ اطاعت او فرمابردارۍ؛ او همدا رنګه د نافرمانۍ وختونه راځي. په دې ټولو حالاتو کې پر ده د الله تعالی له خوا ځینې احکام ټاکلي دي، دا ځکه چې الله تعالی د ده خالق او پیدا کوونکی دی.

د دې خبرې څرګنداوی په دې ډول دی چې: کله چې یو څوک د اطاعت په حالت کې وي، باید له الله منندوی وي چې ده ته یې نېغه لار ښودلې. کله چې د خوښۍ په حالت کوي نو بیا هم باید له الله مننه وکړي چې له خوښۍ ډک زړه یې ور په برخه کړی. خو کله چې د نافرمانۍ په حالت کې وي، نو پکار ده چې توبه وباسي او له الله بښنه وغواړي. او وروستی یې هم دا چې کله انسان له ستونزو یا کړاوونو سره مخ وي، نو باید صبر او زغم ولري.

دا څلو واړه حالتونه په عظیم کتاب قرآن کریم کې یاد شوي. د بېلګې په ډول د اطاعت او فرمابردارۍ د حالت په اړه لولو چې:

((ورته ووایه: (دا) د الله په فضل او رحمت سره دی نو په دې سره دې خوشاله وي، دا له هغه څه غوره دی چې خلك یې را غونډوي.))

(یونس: ۵۸)

د خوښۍ او سوکالۍ د حالت په اړه په یو بل آیت کې فرمايي:

((... خورئ د خپل رب له روزۍ نه او شکر یې وباسئ، دا پاکیزه ښار او هغه بښونکی رب دی.))

(سبا: ۱۵)

د نافرمانۍ د حالت اړوند الله تعالی فرمايي:

((ورته ووایه! اې زما هغو بندګانو چې پر خپلو ځانو یې ظلم کړی د الله له رحمته مه ناهیلي کېږئ، یقیناً الله ټول ګناهونه بښي بې شکه هماغه ډېر بښونکی مهربان دی.))

(الزمر: ۵۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ستونزو او کړاوونو په تړاو فرمايي:

((او خامخا به تاسو په څه ډار، لوږه، او د مالونو، ځانونو او مېوو په څه کمښت وازمايو نو صبر کوونکو ته (د ثواب) زېری ورکړه. هغوی ته، چې کله يو مصيبت ور ورسيږي نو وايي موږ د الله يو او د هغه په لور ستنېدونکي.))

(البقرة: ١٥٥ – ١٥٦)

دغه راز نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

((د مؤمن حال د تعجب وړ دی. په هر حال کې ورته خير او ښېګڼه رسېږي او نه رسېږي دا خير مګر مؤمن ته. که يو څه خوښي پرې راشي، شکر پرې باسي نو دا ورته خير دی. او که څه کړاو ور رسېږي نو صبر پرې کوي او دا هم ورته خير دی.)) (١)

## د غوره وختونو لټون:

يو ښه مسلمان چې تل په ښو کارونو کې له نورو وړانديتوب کوي، ورته بويه چې هغه وختونه ولټوي چې الله له ځانګړو برکتونو او فضايلو ډک کړي، لکه څرنګه چې پيغمبر عليه السلام فرمايي:

((خدای مو ځينې وختونه برکتمن کړي، نو ويې لټوئ.)) (٢)

هغسې چې الله تعالی ځينو کسانو ته په ځينو نورو ځانګړې لوړاوی او فضيلت ور په برخه کړی، ځينو نوعو ته يې ګټورتيا ورکړې او ځينې ځايونه يې برکتمن کړي، نو دا طبيعي ده چې ځينو وختونو ته يې هم فضيلت او لوړاوی ور په برخه کړی ځکه هماغه د ټولې نړۍ خالق او هستوونکی دی. هغه لوړ ذات فرمايي:

((او ستا رب چې څه غواړي هغه پيدا کوي او غوره کوي يې، ددوی څه اختيار نشته...))

(القصص: ٦٨)

---

[1] رواه مسلم.

[2] رواه الطبراني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی د شپې د وروستۍ برخې ساعتونه برکتي کړي. دا هغه وخت دی چې الله تعالی په داسې کیفیت د خپلو بندګانو لپاره د ځمکې اسمان ته را ښکته کېږي چې له شان سره یې ښايي او غږ پرې کوي:

((آیا څوک شته چې ښښنه رانه وغواړي او زه یې ګناهونه ور وبښم؟ شته څوک چې توبه وباسي او زه یې توبه قبوله کړم؟ شته څوک چې له ما غوښتنه ولري؟ شته څوک چې له ما دعا وغواړي؟ او (دا) تر رڼا کېدو پورې (دوام کوي).)) (۱)

همدا لامل دی چې سپېڅلی او رښتینی ذات الله جل جلا له فرمايي:

((بې شکه متقیان په باغونو او چینو کې دي. څه چې خپل رب یې ورکړي د هغو را اخیستونکي به وي، یقیناً هغوی له دې نه وړاندې نېکان وو. هغوی به د شپې لږ (وخت) ویده کېدل. او په سهارونو کې به یې ښښنې غوښتلې.))

(الذاریات: ۱۵ – ۱۸)

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي:

((هغه وخت چې الله خپل بنده ته له بل هر وخت نه زیات ور نږدې وي د شپې وروستۍ درېیمه برخه ده، نو که تاسې یو له هغو کسانو یاستئ چې په دې ګړۍ کې الله یادولی شئ، نو همداسې وکړئ.)) (۲)

الله تعالی ته تر ټولو خوښه ورځ د جمعې مبارکه ورځ ده. د جمعې ورځ د مسلمانانو اونیز اختر دی چې دوی پکې د جمعې لمونځ ترسره کوي. او په دې ورځ کې یوه ګړۍ داسې وي، که په هغې کې یو مسلمان له الله تعالی څه وغواړي، نو خامخا به یې ترلاسه کړي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي:

((څوک چې د جمعې لمانځه ته په لومړي وخت کې ځان ور ورسوي نو داسې دی لکه یو اوښ یې چې صدقه کړی وي، او څوک چې په دوهم ساعت کې ور ورسېږي، نو داسې دی لکه غويی یې چې صدقه

---

[1] رواه احمد و مسلم.
[2] رواه الترمذي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی وي، هغه چې په درېیم ساعت کې ور ورسېږي داسې دی لکه اوزه يې چې صدقه کړې وي، هغه چې په څلورم ساعت کې ور ورسېږي نو داسې دی لکه چرگه يې چې خيرات کړې وي او بيا یوه هگی؛ خو کله چې امام د خطبې لپاره په منبر کېني، نو پرښتې هم د خطبې د اورېدو په پار جومات ته ننوځي.)) ([1])

او دغه راز الله تعالی ته د کال تر ټولو خوښې او نېردې ورځې د ذوالحجې میاشتې لس ورځې دي، او په دې لسو کې تر ټولو غوره د عرفې ورځ ده. پیغمبر علیه السلام یې په دې ټکو یادونه کړې:

((الله تعالی ته له دې لسو ورځو څخه زیاتې غوره او خوښې ورځې نشته. ویې ویل: اې د الله رسوله! آیا د الله په لاره کې جهاد هم نه؟ ځواب يې ورکړ: نه، د الله په لاره کې جهاد هم نه، پرته له دې چې یو سړی له خپل روح او شتمنۍ سره ووځي او په داسې حال کې بېرته راوگرځي چې له دې څخه یو هم ورسره نه وي.)) (۲)

کله چې الله ته د تر ټولو غوره میاشتو خبره راشي، نو بې له شکه چې هغه د روژې میاشت ده. دا میاشت له یوه ځانگړي مقام څخه برخمنه ده او هغه دا چې په دې میاشت کې قرآن کریم پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی او مسلمانانو ته د روژې، د شپې لمانځه او د ښو کارونو د ډېرولو امر شوی. په دې توگه، روژه د نېکیو او تقوا میاشت ده. همدا لامل دی چې سلف صالحینو به په ډېرې لېوالتیا د دې میاشتې غوښتنه کوله تر څو خپلې نیمگړتیاوې ورژوي او ځان له گناهونو پاک او سپېڅلی کړي.

له عباده ابن الصامت رضي الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر علیه السلام یوه ورځ د روژې په میاشت کې وفرمایل:

((روژه درته د برکتونو د میاشت په توگه راغلې او الله مو په دې میاشت کې ساتنه کوي؛ نو خپل رحمتونه درباندې نازلوي، گناهونو مو رژوي او دعاوې مو قبلوي. په دې کې مو سیالي ته گوري او د پرښتو په وړاندې مو ستاینه کوي. نو الله ته مو تقوا او رښتینولي

---

[1] رواه البخاري و احمد.

[2] رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې کړئ، ځکه بد مرغه کس هغه دی چې په دې میاشت کې یې
د الله پېرزوینه، ښښنه او لورېینه په برخه نه شي.)) (۱)

که څه هم د روژې ټوله میاشت یوه ارزښتناکه او له برکتونو ډکه میاشت ده، خو وروستۍ لس ورځې یې تر ټولو زیاتې له ارزښت او اهمیت څخه برخمنې دي او کولی شو دا ارزښت یې په لاندې دوو علتونو کې څرګند کړو:

**لومړی**، دا ورځې د دې برکتمنې میاشتې وروستۍ ورځې دي او هغه اعمال چې په دې ورځو کې ترسره شوي وي، زیات ارزښت او اجر لري. همدا لامل دی چې په یوې دودیزې دعا کې راځي:

((اې الله، زما د ژوند تر ټولو غوره پړاو وروستی پړاو وګرځوه؛ او تر ټولو غوره اعمال مې وروستني اعمال وګرځوه؛ او زما تر ټولو غوره ورځ هغه کړه چې له تا سره پکې مخ کېږم.))

**دوهم**، د قدر شپه یو له دې غوره وختونو څخه ده او دا هغه شپه ده چې الله تعالی پکې برکتونو نازولوي، لکه الله تعالی فرمايي:

((بې شکه موږ هغه (قرآن) د قدر په شپه نازل کړی. او ته څه پوه کړی یې چې د قدر شپه څه ده؟ د قدر شپه له زرو میاشتو غوره ده. په هغې کې ملایکان او روح د خپل رب په اجازه د هر (ټاکلي) کار دپاره را کوزیږي. هغه (ټوله) سلامتیا ده، تر سهار ختلو پورې.))

(القدر: ۱-۵)

د روژې په دې لسو ورځو کې، پیغمبر علیه السلام به د شپې لمونځ کاوه او د کورنۍ غړي به یې هم پاڅول چې په دې کار کې ورسره ګډون وکړي.

له روژې وروسته محرمې میاشتې راځي چې د رجب، ذوالحجې، ذوالقعدې او محرم څلور میاشتې دي. الله تعالی فرمايي:

((په حقیقت کې د الله په وړاندې د میاشتو شمېر دولس دی، د الله په کتاب کې له هغې ورځې چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي چې

---

[1] سیوطي په خپل کتاب ((الجامع الکبیر)) کې راوړی او الطبراني ته یې راجع کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغو نه څلور حرامې دي، همدا سم دين دی،  نو په دغو کې پر خپلو ځانو ظلم مه کوئ...))

(التوبة: ٣٦)

## د مسلمان د ورځني ژوند مهالوېش:

د الله تعالی د رحمتونو د ترلاسي په موخه چې کله يو مسلمان خپل ورځنی ژوند برابروي،  نو بايد د اسلام له اصولو سره يې سم برابر کړي.

د دې اصولو له مخې، يو مسلمان بايد د شپې وختي ويده او سهار وختي راپاڅېږي. هغه ته بويه چې سهار وخته او يا مخکې له دې چې لمر را وخېژي، خپله ورځ پيل کړي، ځکه وختي پاڅېدل به يې پر يوه داسې سپېڅلي سهار ونازوي چې سوچه او پاک وي او د هغه نافرمانه په تنفس به نه وي چتل شوی چې ناوخته پاڅېږي. پيغمبر عليه السلام فرمايي:

((اې الله، زما د امت سهارونه له برکتونه او رحمتونو ډک کړه.)) (١)

يو له تر ټولو لويو بدمرغيو چې نن ورځ مسلمانان پکې اخته دي، دا ده چې د شپې تر ډېرو وينښ وي او سهار بيا ناوخته پاڅېږي، او په دې ډول د سهار لمونځ ترې تېر وي. له سلف صالحينو څخه يو تن فرمايي: ((زه حيرانه يم چې دا څنګه امکان لري چې يو څوک دې د سهار لمونځ د لمر له راختو وروسته وکړي او بيا دې هم الله تعالی خپل نعمتونه پرې ولوروي.))

له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دی چې نبي کريم ص وفرمايل:

((کله چې له تاسې يو تن ويده کېږي، نو شيطان يې د سر په شاتنۍ برخه کې درې غوټې ور اچوي او د هرې غوټې له تړلو سره وايي: په وړاندې دې اوږده شپه پرته ده، نو کرار ويده اوسه. خو که دا کس پاڅېږي او الله ياد کړي، نو يوه غوټه به يې خلاصه شي؛ که اودس هم وکړي، يوه بله غوټه يې پرانيستل شي؛ او که لمونځ هم وکړي نو درې واړه غوټې يې پرانيستل شي، نو دی به فعاله او زړه به يې خوشاله

[1] رواه احمد و غيرهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، او که داسې ونه کړي نو زړه به يې له خفګانه ډک او د ناړامۍ
احساس به کوي.)) (۱)

ځومره لوی توپیر دی د هغه مسلمان چې د شیطان د غوټو په پرانیستلو بریالی کېږي او هغه مسلمان تر منځ چې د شیطان تر اغېز لاندې ویده پاتې وي. نو لومړی یې د الله په یادولو او د لمانځه په ترسره کولو خپله ورځ په فعاله توګه پیلوي، وروسته د ژوند ډګر ته په بدني او روحي ډول فعال او روغ ور ځي. خو وروستی یې همداسې ویده پاتې کېږي او کله چې را پاځېږي نو خپل ځان او همدا رنګه خپل روح دروند احساسوي او د خوب او تنبلۍ دا احساس ټوله ورځ ورسره مل وي.

دې ټکي ته په پام، مسلمان باید سهار وختي پاځېږي، لمونځ ترسره کړي او بیا هغه دعاوې ولولي چې پیغمبر علیه السلام یې د سهارنیو دعاګانو په توګه ښوونه کړې، چې ځینې یې دا دي:

((د الله تعالی په واکمنۍ کې سهار را پاځېدلو. ټولې ستاینې الله لره دي، شریک نه لري. پرته له هغه بل خدای نشته او هماغه ته مو ورستنېدل دي.))

((اې الله! هر هغه نعمت چې زه او ستا بل هر مخلوق ورسره پاځېدلی دی ستا له خوا دی. تا لره شریک نشته، ټولې ستاینې تا لره دي.))

((اې الله! زه ستا له پېرزوینو، روغتیا او پناه سره را پاځېدم، نو په دنیا او آخرت دواړو کې دې خپلې پېرزوینې، روغتیا او پناه راباندې بشپړ کړه.))

له دې وروسته مسلمان له خپل وخت او د خپل ایمان، باور او تقوا له کچې سره سم د قرآن کریم تلاوت کوي. الله (جل جلا له) فرمايي:

((دا یو برکتي کتاب دی – تا ته مو د دې دپاره نازل کړی چې خلك یې په آیتونو ښه سوچ وکړي او عقلمند څه درس ترې واخلي.))

(ص: ۲۹)

---

[۱] رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریسې مسلمان سهارنۍ خوري او د رزق په لټون پسې وځي. که شتمن وي یا بې وزلی، بېکار ده چې په هر حال کې ځانته یو کار ولټوي، که څه هم د هغه شتمنۍ هر څو ډېره وي. دا په دې معنا ده چې مسلمان باید په هر حال کې کار وکړي، هغه که د پیسو ګټلو وي او که د خپلې دارایي او شتمنۍ ساتنه.

همدا په اسلام کې د سود د حراموالي لامل او دلیل دی، ځکه سودي سیستم د اسلام له لارښوونو سره په ټکر کې دی. اسلام یو انسان سخت کار، پیسو ګټلو او د موخیز ژوند په لور هڅوي. د دې پرعکس، سود انسان په کور بې کاره کېناستو ته هڅوي، چې هېڅ کار هم نه کوي او کوم خطر هم ور پېښ نه وي، خو بیا هم د هغه څه یوه سلنه لاسته ورځي چې په پور یې ورکړي وي. نو، پر انسان لازم دي چې کار وکړي او ځمکه شېرازه کړي، هسې چې په قرآن کریم کې راغلي:

((... هماغه تاسو له ځمکې را پیدا او پکې آباد یې کړئ...))

(هود: ٦١)

نو په دې توګه انسان دا زدکړه کوي چې د یو څه په بدل کې باید یو څه له لاسه ورکړي او هغه څه چې دی مصرفوي، د هغه د تولید لپاره زیار وباسي. هغه ته بویه چې بابېزه ژوند ونه کړي، تر دې که د الله تعالی عبادت ته د ځان وقف کولو ادعا هم ولري؛ ځکه په اسلام کې هېڅ ډول رهبانیت (یا له نړۍ انزوا) نشته.

عبدالله ابن زبیر رض فرمایي چې په نړۍ کې بې موخې او عبث اوسېدل تر ټولو ناوړه کار دی. المناوي په دې خبرې تبصره کوي او وایي: که چېرته یو انسان د خپل دیني لوړاوي په موخه بې معنا ژوند تېروي، نو د شیطان تر ټولو اسانه ښکار همدی وي. او که د یو چا خلکو ته هېڅ ګټه هم نه رسېږي، نو دی به د هغوی په اوږو یو اضافي پېټی وي.

له همدې امله هر کله به چې عمر رض د ښې بنې او څېرې ښښتن ولید، نو ترې وبه یې پوښتل: آیا کومه دنده لري؟ که به یې ځواب ((نه)) وو، نو سزا به یې ورکوله. پر دې سربېره یوه نېک انسان، یو صوفي چې هېڅ دنده نه لري، له هغه کونګ سره پرتله کړی چې په دښتو او بیابانونو کې اوسېږي او هېچا ته یې هم ګټه نه رسېږي.

د دې تیورۍ له مخې مسلمان باید پوه وي چې د خپلو دنیوي کارونو د ترسراوي له لارې د الله تعالی په نزد هم خپله دنده او وجیبه ترسره کوي او د الله په عبادت کې لګیا دی. او دا تر هغه وخته دوام کوي تر څو چې د ده کار روا او حلال وي او تر څو چې هېڅ لورې یې هم د الله له یاده نه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دې ترڅنګ، هر مسلمان باید د خپلو کارونو په ترسره کولو کې د کمال تر بریده هڅه وکړي، ځکه پیغمبر علیه السلام فرمايي:**

> **((یقیناً الله تعالی امر کړی چې هر کار باید په غوره ډول ترسره شي.)) (۱)**

> **((یقیناً الله خوښوي چې که له تاسې څخه یو چاته کوم کار ور له غاړې وي، نو په غوره ډول یې ترسره کړي.)) (۲)**

**د یوه مسلمان له ورځنیو دندو چې پکار ده هېر یې نه کړي او له سترګو یې ونه غورځوي، هغه د ټولنې په وړاندې د ده مسؤلیت دی. دا په دې معنا چې مسلمان باید د ټولنې له غړو سره د هغوی د کارونو په سمون او د هغوی د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته او ملاتړ وکړي او د دې اجر به د هغه چا له اجر سره برابر وي چې لمونځ کوي او یا صدقه و خیرات ورکوي.**

**نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي:**

> **((هر مسلمان باید صدقه ورکړي. ویې پوښتل: اې د الله رسوله! که هېڅ شی هم ورسره نه وي؟ پیغمبر علیه السلام ځواب ورکړ: کولی شي په خپل لاس کار وکړي، نو چې ګټه یې وکړه بیا دې صدقه ورکړي. ویې ویل: که د کار کولو وړتیا ونه لري او یا یې نه کوي؟ ویې فرمایل: کولی شي له یوه اړمن سره مرسته وکړي. ویې پوښتل: که چېرته دا کار هم ونه کړي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ: نو بیا دې په ټولنیزو چارو کې ګډون وکړي. ویې پوښتل: که داسې هم ونه کړي؟ ویې فرمایل: نو بیا دې خپل ځان له ناروا کړنو لرې وساتي، ځکه دا هم صدقه ده.)) (۳)**

**نو دا ډول صدقه یا ټولنیزه دنده د هر مسلمان ورځنۍ وجیبه ده او له دې هم ور هاخوا پر ده د خپل بدن د هر غړي حق دی. نو په دې ډول به یو مسلمان د خپلو شاوخوا خلکو لپاره د امن، ارامتیا او ښه والي یوه بهانده چینه وي، رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي:**

---

۱ رواه مسلم.
۲ رواه البیهقي و غیرهم.
۳ رواه البخاري و مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((د يوه مسلمان د بدن هر غړی باید هره ورځ چې لمر راخېژي، صدقه وباسي: د دوو کسانو تر منځ په عدل او نیاو پرېکړه صدقه ده؛ له یو چا سره غره ته په ختو او د هغه د سامان په خېژولو کې مرسته کول صدقه ده؛ ښه خبره صدقه ده؛ هر ګام چې د لمانځه په لور پورته کېږي، صدقه ده؛ او له لارې څخه د زیانمن شي لرې کول هم یوه صدقه ده.)) (۱)

دا چې الله تعالی انسان په بشپړ او غوره شکل خلق کړی، نو پکار ده چې انسان د خپل بدن هر غړی، بند او هډوکی د الله تعالی په خدمت او د هغه د بندګانو په ګټه وکاروي، او په دې ډول د هغه شکر پر ځای کړي.

کله چې د ماسپښین د لمانځه وخت شي، مسلمان د الله د بلنې په لور بیړه کوي او د مسلمانانو په ټولګي کې د لمانځه لپاره تلوار کوي. د لمانځه هغسې چې الله تعالی یې امر کړی، په خپل وخت ترسره کول فرض دي او په جمعه لمونځ کول غوره او اړین کار دی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم نږدې وو چې د یو ډله خلکو کورونو ته ور واچوي ځکه هغوی به د جمعي له لمانځه ګوښه والی کاوه.

همدا لامل دی چې الله تعالی د جمعي لمانځه ته د یوازیتوب پر لمانځه اوه ویشت درجې فضیلت او لوړاوی ورکړی.

له دې وروسته، انسان د غرمې ډوډۍ خوري، په داسې ډول چې د خپلو کارونو د کولو وړتیا ور وبښي او بسنه ورته وکړي، لکه الله تعالی چې فرمایي:

((اې د آدم اولادې! د هر عبادت په وخت کې مو خپل د ښکلا لباس واخلئ او خورئ، څښئ خو اسراف مه کوئ، بې شکه هغه (الله) اسرافیان نه خوښوي. ورته وایه: د الله هغه (د) ښکلا (سامان) چا حرامه کړې چې خپلو بندګانو ته یې را ایستلې او د روزي هغه پاکیزه شیان؟ ورته وایه: هغه خو په دنیایي ژوند کې هم (اصلاً) د مؤمنانو لپاره دي او د قیامت په ورځ خو به یوازې د دوی لپاره وي، په همدې توګه موږ هغو خلکو ته خپل آیتونه څرګند بیانوو چې پوهیږي.))

(الأعراف: ۳۱-۳۲)

---

[۱] رواه البخاري و مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په تودو هېوادونو کې په ځانګړې ډول په اوړي کې ځینې خلک د ماسپښین له خوا یوه سترګه خوب کوي تر څو د شپې د لمانځه جوګه وګرځي او سهار د وخته پاڅېدو وړتیا ولري. الله تعالی په لاندې آیت کې ورته نغوته کړې:**

**((... غرمه مهال چې کله تاسې جامې باسئ...))**

**(النور: ۵۸)**

**کله چې مسلمان د مازدیګر اذان واوري، نو باید پاڅېږي او که په دنده کې وي، نو د لمانځه لپاره خپل کار پرېږدي. په بل عبارت، دی باید تر هغه وخته پورې له هر څه ځان لرې وساتي، تر څو یې چې لمونځ نه وي کړی. د یوه غوره مؤمن دا صفت په لاندې آیت کې بیان شوی:**

**((داسې نران چې سوداګري او خرڅلاو یې د الله له یاده، د لمانځه له ترسره کولو او زکات ورکولو څخه نه غافلوي هغوی له یوې داسې ورځې ډارېږي چې زړونه او سترګې پکې اوړي را اوړي.))**

**(النور: ۳۷)**

**له یوه مسلمان سره نه ښایي چې خپل لمونځ د لمر تر لوېدو پورې وځنډوي، ځکه دا د منافقینو ځانګړنه وه. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:**

**((منافق همداسې لمونځ کوي، منافق همداسې لمونځ کوي، منافق همداسې لمونځ کوي؛ د لمر لوېدو ته ګوري چې کله د شیطان د دوو ښکرونو منځ ته ورسېږي، نو هله منافق پاڅېږي او ژر ژر د (مازدیګر) څلور رکعته لمونځ وکړي، او خدای ډېر کم یادوي.)) (۱)**

**او کله چې لمر ولوېږي نو مسلمان د ماښام د لمانځه لپاره ودرېږي، دا ځکه چې د دې لمانځه وخت ډېر لنډ دی. کله چې د لمانځه فرایض او سنتونه ترسره کړي، نو بیا د ماښام ځینې دعاوې لولي، لکه:**

**((اې الله! ستا شپه را روانه ده، ستا ورځ تلونکي ده او ستا بندګان له تا دعاوې غواړي، نو ما ته ښښنه وکړې.))**

**پردې سربېره، د پورته یادو دعاګانو تر څنګ چې د سهار له خوا لوستل کېږي، نورې دعاوې هم شته، خو یوازې د سهار کلمه یې باید د ماښام په کلمې واړول شي.**

---

[1] رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریپسې مسلمان د شپې ډوډۍ خوري او له هغه وروسته د ماخوستن لمونځ او سنتونه کوي او بیا له ویده کېدو مخکې د خپلوانو، ملګرو او اندیوالانو د لیدو یا ورسره د مخه ښه کولو اړوند فریضه پر ځای کوي.

نه یوازې دا، بلکې مسلمان باید هره ورځ یو څه وخت مطالعې ته هم ورکړي. په دې معنا چې دی باید داسې علم هم ترلاسه کړي چې په دین او دنیا کې ورته ګټور وي. الله تعالی خپل پیغمبر ته امر کړی:

((... او (دا) وایه چې زما ربه! زما علم نور هم زیات کړې.))

(طـــه: ۱۱۴)

یو عالم وایي: ((ته راته ووایه چې څه شی مطالعه کوې، زه به درته ووایم چې ته څوک یې!))

په دې کې هېڅ ستونزه نشته چې مسلمان وخت په وخت د روا بریدونو دننه او له یوه شرط سره سم تفریح او لوبې وکړي او هغه شرط دا دی چې دا ساعت تېری به یې د خپل ربښتیني پیغام په عملي کولو کومه اغېزه نه کوي. یعنې دی کولی شي چې د الله تعالی د حقونو له تر پښو لاندې کولو پرته لوبې او تفریح وکړي ځکه بدن یې حق لري چې استراحت وکړي، کورنۍ یې پرې حق لري چې ساتنه یې وکړي او دنده یې پرې حق لري چې سر ته یې ورسوي. دی باید د خپلو حقونو او دندو تر منځ انډول رامنځته کړي، لکه الله تعالی یې چې امر کړی:

((چې تاسې په تله کې تېری ونه کړئ. او په انصاف سره سم تول کوئ
او تله مه کموئ.))

(الرحمن: ۸ – ۹)

هره ورځ مسلمان ته ښایي چې د الله تعالی هغه حقونه چې دی یې په وړاندې مسؤلیت لري، له یاده ونه باسي، له پامه یې ونه غورځوي او یا ترې مخ وا نه ړوي. الله تعالی فرمایي:

((او (یوازې) الله ولمانځئ او هېڅ شی مه ورسره شریکوئ، مور و پلار
سره ښېګڼه کوئ خپلوانو سره، یتیمانو، مسکینانو، خپلوان ګاونډي،
پردي ګاونډي، د څنګ ملګري، مسافر او له هغو سره چې ستاسو په
واك کې وي...))

(النساء: ۳٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نو، تر ټولو لومړنی او اساسي حق د ستر خالق، یوازیني مالک او هستوونکي ذات الله تعالی دی:**

((او په تاسې چې کومه لورېینه (نعمت) ده هم د الله له لوري ده...))

(النحل: ۵۳)

**د همدې لپاره، مسلمان باید د الله تبارک و تعالی حقونه له پامه ونه غورځوي.**

**د الله تعالی تر ټولو څرګند او ستر ورځنی حق لمونځ دی او په دې کې خشوع او عاجزي کول یې د مؤمنانو تر ټولو لومړنۍ ځانګړنه بللې، الله جل جلا له فرمایي:**

((هغوی چې په خپل لمانځه کې عاجزي کونکي دي.))

(المؤمنون: ۲)

**هغه تبارک و تعالی په دې ځانګړنو کې د لمانځه پر ساتنې په سختۍ ټینګار کړی، الله جل جلا له فرمایي:**

((او هغوی چې (تل) د خپلو لمنځونو ساتنه کوي.))

(المؤمنون: ۹)

**او هغه چې د لمانځه ټاکلي وختونه تېروي او له لاسه یې وځي، هغوی وېروي، الله تعالی فرمایي:**

((نو د (داسې) لمونځ کونکو دپاره تباهي ده. کوم چې له خپلو لمنځونو غافلان دي.))

(الماعون: ۴ – ۵)

**دوهم حق د مور او پلار دی، ځکه چې له هغوی سره له مهربانۍ او درناوي ډک چلند کول په سیده ډول له توحید سره اړیکه لري، لکه څنګه چې یې قرآن کریم بیانوي. په دې برخه کې مور ته ځانګړې پاملرنه شوې، دا په دې چې مور د یوه ماشوم لپاره له پلار څخه زیاتې ستونزې ګالي او ډېره ساتنه او پاملرنه یې کوي. قرآن کریم فرمایي:**

((... مور يې په (ډېر) کړاو سره په ګېډه کې ګرځولی او په کړاو سره يې زېږولی، او په ګېډه کېدل او له تې بېلېدل يې (ټول) دېرش میاشتې دي... ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(الاحقاف: ۱۵)

همدا لامل دی چې اسلام یوازې یوه ورځ ځانګړې کول نه مني چې خلک یې ((د مور ورځ)) بولي او د مور درناوی پکې کوي، ځکه اسلام غواړي چې د مور د ژوند هره ورځ د نمانځنې او درناوي ورځ وګرځوي.

له دې وروسته د خپلوانو لکه ورونو، خویندو، ماماګانو، ترونو، د تره زامنو او نورو خپلوانو حق راځي. ورپسې د یتیمانو، بې وزلو، مسکینانو، سوالګرو حق دی او بیا د ګاونډیو او ملګرو حقونه دي.

په پای کې د هغه چا حق دی چې ښی لاس پرې واکمن دی یعنې انسان ته د هغه څه حقونه هم ور له غاړې دي چې په واک کې یې دي. د بېلګې په ډول د مرییتوب په عصر کې پر بادار له خپل مریي سره د روغ چلند حق وو. خو اوس، پر ده لازم دي چې له خپلو څارویو، ماشینونو او خپلې دارایي سره سم او روغ چلند وکړي. باید ساتنه یې وکړي او ضایع یې نه کړي، ځکه الله تعالی داسې نعمتونه ورکړي چې د قیامت په ورځ به یې په اړه پوښتل کېږي.

د ورځې په پای کې، که چېرته مسلمان غواړي چې ویده شي، نو غوره دا ده چې اودس وکړي، لمونځ وکړي او ورپسې د خوب ځای ته لاړ شي، په ښي اړخ پرېوځي او د پیغمبر علیه السلام دا دعا ولولي:

> ((اې الله! ستا په نوم پرېوځم او ستا په نوم به را پاڅېږم. که ته رانه (د خوب په حالت کې) روح واخلې نو ښښنه ورته وکړه؛ او که یې (له خوب وروسته) بېرته را واستوې، ساتنه یې وکړه هغسې لکه د خپلو نېکو بندګانو ساتنه چې کوې.))

د همدې لپاره مسلمان باید زده کړي چې د ورځې په هره برخه کې کومو اعمالو او ویناوو ته اړتیا لري. دا معلومات د علماوو له خوا په لیکل شوو کتابونو کې موندلی شو، چې ځینې کتابونه یې په لاندې ډول دي:

۱- اعمال الیوم والیله — النسایي.

۲- الاذکار — النووي.

۳- الکلمة الطیب — ابن تیمیة.

۴- الوابل الصیب — ابن القیم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵- الحسن الحاسن – ابن الجزري.**

**۶- تحفة الذاکرین – الشوکاني.**

**۷- الاذکار – امام حسن البنا. (۱)**

[۱] زموږ د معلوماتو له مخې تر اوسه پورې یوازې الماثورات او الاذکار انګلیسي ژبې ته ژباړل شوي. (اېډیټ کوونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴)

## د انسان وخت – د پرون، نن او سبا تر منځ

د انسان وخت په دریو برخو وېشل کېدی شي: پرون، نن او سبا؛ یا تېر، اوس او راتلونکی.

له وخت سره د چلند له مخې خلک په بېلا بېلو ډلو وېشلی شو چې له بې ګټې وخت تېروونکو نیولې د وخت په اړه تر بې پامۍ او بې پروايۍ کوونکو پورې خلک پکې رانغاړي. داسې خلک شته چې له تېر مهال سره مینه لري، داسې خلک چې په اوسمهال پورې نښتي او داسې خلک چې ځان یې له حده زیات راتلونکي ته وقف کړی.

خو، داسې خلک هم شته چې اعتدال یې غوره کړی او په دې پوهېږي چې د وخت له ټولو پړاوونو سره څنګه عاقلانه او متوازن چلند وکړي.

### په تېرمهال پورې تړلي خلک:

داسې خلک شته چې پرته له تېرې ورځې څخه بل هېڅ شی هم نه پېژني. دوی یوازې په تېر مهال کې ژوند کوي او د بل هېڅ څه په هکله هم احساس یا اندېښنه نه لري. داسې خلک یا په خپل تېر مهال پسې لېوني وي او په خیالي نړۍ کې ژوند کوي، یا د خپل ملت یا کورنۍ په تېر وخت مېین او د هغو لېونیانو په څېر وي چې د تېرو وختونو په رنګینیو کې ژوند کوي. د دې ډلې خلک دا ډول بېلا بېل انځورونه لري:

**الف**: لومړی انځور د هغو خلکو دی چې په خپلو لاسته راوړنو وياړ او لويي کوي. دوی په بشپړ ډول په تېر کې ورک وي او د هېڅ داسې کار هڅه نه کوي چې د دوی د تېر او اوسمهال تر منځ د یوه پل په توګه کار ترې واخیستل شي. دوی هر وخت د هغه څه په هکله خبرې کوي چې پخوا وو او یا هغه څه چې د دوی پخوانیو نسلونو ترسره کړي. دوی د نورو په تاریخ کې ژوند کوي او د خپلو کارنامو او لاسته راوړنو هډو تاریخ نه لري چې په اړه یې خبرې وکړي.

د خپل تېرمهال برم او پرتم او د خپلو تېرو نسلونو سترې لاسته راوړنې بې له شکه چې د ستایلو وړ دي، خو یوازې تر هغه وخته چې د هغوی پیل کړی کار مو د پرمختګ جوګه کړي او د هغوی د ښو کارونو متابعت وکړو. خو که خبره یوازې د تېرمهال په ستاینه کې تر بوللو پاتې شي، نو بیا به مو ارومرو یو ولاړ چلند خپل کړی وي چې د ملتونو او قومونو په وده او پرمختګ کې هېڅ ډول زیاتوالی هم نه رامنځته کوي. او که ډول ولاړ چلند خپل کړي نو معنا به یې له دې پرته بل څه نه وي چې وراسته شوي هډوکي ګټور وي، څکه یو وخت په ژوندیو جسدونو کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب**: دوهم انځور د هغو خلکو دی چې په ورپاتې میراث تکیه کوي، بې له دې چې سم او ناسم یې وګوري او یا یې جدي او خندنی اړخ وسنجوي. داسې خلک تېر مهال له اوس نه په هر حال غوره ګڼي ځکه د دوی د لیدلوري له مخې، له تېر مهال ښځه داسې څه نه دې ور پاتې چې دوی پرې اوسمهال ویاړ وکړي. په دې حالت کې، دا مهمه ده چې لومړی میراث یا ترکه وپېژنو او بیا یې تجزیه وکړو.

ځیني خلک قرآن کریم او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سنت هم د همدې ترکې یا میراث برخه بولي. بې له شکه چې همداسې ده، کله چې د ترکې دا برخه هغو مسلمانانو ته ور ورسېږي چې پوهه یې لري نو له دې پرته بله هېڅ لاره نه ور پاتېږي چې عمل پرې وکړي.

الله تعالی فرمایي:

((او (ګورئ) کله چې الله او د هغه رسول د څه کار فیصله وکړي نو بیا هېڅ مؤمن او مومنې لره دا نشته چې بیا به یې (هم) د خپل کار څه واك وي ...))

(الاحزاب: ٣٦)

نو کله چې د میراث سپېڅلی اړخ موخه وي، نو بیا هېڅ ډول شک او شبهات باید شتون ونه لري. خو تر کومه چې د میراث انساني لوری دی، نو پکار ده چې دا برخه یې لومړی چاڼ شي او بیا پرېکړه وشي چې څه ترې واخیستل او کومه برخه یې پرېښودل شي. د بېلګې په ډول، ښايي په دې میراث کې له داسې سیمه ییزو ارزښتونو سره مخ شو چې په بل ځای کې رغښت ونه شي کړی، او ښايي داسې یو څه پکې بیامومو چې د یوه ځانګړي عصر استازولي وکوي او په بل عصر کې ترې ګټه نه شي اخیستل کېدی.

همدا لامل دی چې د ستونزې د هواري په موخه، هر هغه څه چې د تېر وخت استازیتوب کوي او اوس هم موجود وي باید اوړه په اوړه مخکې لاړ شي.

**ج**: درېیم انځور د هغو خلکو دی چې په تېر مهال پورې کلک نښتي او د هر څه متابعت کوي، او په دې پوخ باور لري چې هېڅ ډول کوړوالی او تېروتنه پکې نشته. داسې خلک چې په خپلو تېرو نسلونو پورې تړلي وي، له بده مرغه تول ژوند د لارویو او تقلید کوونکو په څېر تېروي او هېڅکله هم د نوښت او نوي فکر هڅه نه کوي. د دې حالت په هکله قرآن کریم فرمایي:

((او کله چې ورته وویل شی: د هغه څه متابعت وکړئ چې الله را نازل کړی، نو دوی وایي: نه! بلکې هغه به منو چې پلار نېکه مو ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې موندلي، که څه هم پلرونه يې په هېڅ شي نه پوهېدل او نه يې لار موندلې وه.))

(البقرة: ۱۷۰)

دا ډول فکر د الله تعالی د پيغمبرانو په لاره کې د خنډ په توګه ودرېدلی. د مثال په توګه، د قرآن کريم هغه آيت چې کله د هود عليه السلام قوم خپل پيغمبر ته وويل:

((آيا د همدې لپاره راته راغلی يې چې يوازې الله ولمانځو او هغه پرېږدو چې زموږ پلرونو لمانځل...))

(الاعراف: ۷۰)

د ثمود قوم صالح عليه السلام ته وويل:

((وېلي اې صالحه! تا ته په موږ کې له دې ړومبی هيلې کېدې، آيا له دې مو ايساروې چې هغه څه ولمانځو کوم چې زموږ پلرونو به لمنځلو...))

(هود: ٦۲)

ابراهيم عليه السلام هم خپل قوم ته وويل:

((کله چې هغه خپل پلار او قوم ته وويل: دا بتان څه شی دي چې تاسو يې عبادت ته ټينـګ ولاړ ياست؟ هغوی وويل: موږ خپل پلرونه د دغو په لمانځنه موندلي دي.))

( الانبياء: ۵۲ – ۵۳ )

او په قرآن کريم کې هغه آيت دی چې کله د شعيب عليه السلام قوم ترې وپوښتل:

((... آيا لمونځ دې امر درته کوي چې موږ هغه څه پرېږدو چې پلرونو مو لمنځلو؟...))

(هود: ۸۷)

سپېڅلی قرآن کريم د خلکو دا چلند په دې ډول بيانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((او په همدې توګه موږ چې له تا ړومبی په کوم کلي کې څوک وېرونکی لېږلی نو ها سوکاله خلکو به یې خامخا ویل چې موږ خپل پلرونه په یوه لاره موندلي او یقیناً موږ د هغوی پر پلونو روان یو.))

(الزخرف: ۲۳)

قرآن کریم دا نه مني چې څوک د فکر کولو داسې ناوړه لار خپله کړي او یا په پټو سترګو د هغه څه پلویان شي چې په میراث ور رسېدلي وي، فرمایي:

((... که څه هم پلرونه یې په هېڅ شی نه پوهېدل او نه یې لار موندلې وه.))

(البقرة: ۱۷۰)

((... ایا که څه هم پلرونه یې نه په څه پوهېدل او نه یې سمه لار موندلې وه.))

(المائدة: ۱۰۴)

((نبي (ع) وویل: آیا که څه هم ما تر هغه غوره لارښوونکی شی درته راوړی وي کوم چې تاسو خپل پلرونه پرې موندلي؟...))

(الزخرف: ۲۴)

**۵**: وروستی انځور د هغو خلکو دی چې په تېر مهال کې اوسېږي، په هغه څه پسې ویر او ژړا کوي چې له لاسه یې وتلي، د خپګان او پښېمانتیا چیغې وهي او ټوله ورځ د پوچو او بې معنا هیلو او ارمانونو مانۍ ودانوي. د فکر او احساس دا ډول د دوی ژوند له بدمرغۍ او خپګان څخه ور ډکوي او د دې لامل ګرځي چې بې ګټې، بابېزه او له اندېښنو ډک ژوند ولري. همدارنګه دا چلند یې له فعالیته غورځوي او له همدې امله ویل کېږي چې په تېر مهال کې اوسېدل د وخت د بې ځایه تېرولو په معنا ده.

دا د حیرانتیا وړ نه ده چې قرآن کریم او سنت دا ډول چلند او سلوک غندلی، الله تعالی فرمایي:

((اې مؤمنانو د هغو په شان مه کېږئ چې کافر شوي او د خپلو ورونو په هکله چې په ځمکه کې به په سفر وتلي او یا به غزا کونکي وو نو ویل به یې: که چېرې دوی موږ سره وای نه به مړه شوي او نه وژل شوي وو، تر څو الله دا خبره د دوی په زړونو کې د یو افسوس په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول واچوي حال دا چې الله ژوندي کول او مړه کول کوي او الله په هغو کارو چې تاسو يې کوئ ډېر ښه ليدونکی دی.))

(آل عمران: ١٥٦)

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

((پياوړی مؤمن له کمزوري مؤمن څخه الله ته ډېر نږدې او ګران دی، خو په دواړو کې ښېګڼه ده. هغه څه چې ګټه در رسوي په لېوالتيا يې وکړئ، له الله مرسته وغواړئ او تنبلي او ناړامي مه کوئ. داسې مه وايئ که مې يوازې داسې او داسې کړي وی، نو بيا به داسې او داسې نه وی شوي، بلکې ووايئ: الله راته خوښ کړي وو او ويې کړل څه يې چې غوښتل، ځکه د ((که)) کلمه د شيطان له خوا ده.)) (١)

نو په تقدير ايمان لرل، يو انسان د ((که)) او ((کاشکې)) د منفي او ناسمو باورونو له لومې خلاصوي او د خپل راتلونکي د ښه کولو لپاره د انسان په هڅونه او تشويق کې د يوه مثبت او اغېزمن فکتور په توګه رول ترسروي.

**له راتلونکي سره له حده زياته مينه**:

د پورته يادو خلکو پرعکس چې له تېر سره له اړتيا زيات تړلي وي، يوه بله ډله هم شته چې خپل ژوند يې له حده زيات راتلونکي ته ځانګړی کړی وي. دې خلکو له خپل تاريخ، د خپل قوم له تاريخ او د انسانيت له تاريخ څخه په بشپړ ډول مخ اړولی او هر ډول ديني او کلتوري ميراث ته په ټيټه سترګه ګوري. دوی دا کار بې له دې چې د تېر مهال د ګڼو اړخونو تر منځ د ښه او بد يا زيانمن او ګټور توپير او تمييز وکړي، ترسره کوي.

دا خلک په دې باور وي چې د هغو نېکو اسلافو په اړه فکر کول چې ډېر مخکې يې له نړۍ څخه سترګې پټې کړې، بې ګټې کار دی او له همدې کبله دوی خپل ټول پام د ځوانۍ، ماشومتوب او تر دې چې د مور په نس کې شته راتلونکو نسلونو ته اړولی وي.

دوی وايي چې زموږ سترګې موږ ته د وړاندې ليدو لپاره راکول شوې، نه شاته د کتو په پار. دوی تېر مهال ته د داسې خنډ په سترګه ګوري چې د دوی د موخو په لور د پرمختګ په لار کې

---

[1] رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتون لري. ښايي د دوی دا خبره هغه مهال رښتيا وي چې کله د هغو خلکو په اړه وشي چې له خلکو غواړي چې د تل لپاره په تېر مهال کې بنديان شي، بې له دې چې خپلو اوسنيو او راتلونکو دندو او مسؤليتونو ته پام او توجه ولري. خو دا باور هغه مهال ناسم ښېږي چې کله د داسې خلکو په اړه کېږي چې د خپل تېر مهال هر څه له ياده وباسي، له خپل ميراث څخه مخ اړوي او تاريخ له خپلو ټولو لارښوونو او عبرتونو سره تر خاورو لاندې ښخوي. په همدې تړاو الله تعالی فرمايي:

((آيا نو دوی په ځمکه کې نه دي گرځېدلي چې بيا يې زړونه داسې وي چې پوهېدلی ورباندې، يا غوږونه داسې چې اورېدلی يې ورباندې نو خبره دا ده چې سترگې نه ړندېږي، خو هغه زړونه ړندېږي چې په سينو کې دي.))

(الحج: ۴٦)

## د راتلونکي په هکله منفي ليدلوری – ناهيلي او بدبيني:

ځينې خلک راتلونکي ته له تورو عينکو گوري او د راتلونکي اړوند منفي او له بدبينۍ ډک فکر لري. دا خلک ناهيلي او زړه ماتي وي، دا ځکه چې په سبا ورځ يې خپل باور له لاسه ورکړی وي او د بريا ټولې هيلې يې رژېدلې وي. د دوی په اړواوو کې دې باور په بشپړ ډول ريښې کړې وي چې ژوند يوه توره شپه ده او هېڅکله به هم لمر پکې څرک ونه وهي.

بې له شکه چې دا ډول ليدلوری پخپله د انسان او د هغه د ټولنې لپاره ويجاړوونکی او ورانوونکی ليدلوری دی. دا ځکه چې کله د يو چا ژوند د هيلو له ډيوې او وړانگو څخه بې برخې شي، نو بيا د داسې انسان ژوند د ستنې د سوري په څېر تنگ، خوړونکی او ځوروونکی شي. او که چېرته يوه ټولنه بې هيلې ژوند کوي، نو ژوند به يې ستومانه، بې روحه او مړژواندی وي، دا ځکه چې همدا هيله ده چې يو چا ته د ودانولو، جوړولو او د علم د پرمختگ ځواک وربښي.

دين، تاريخ او حقيقت ټول همدا ورته درس را کوي او هغه دا چې: ژوند له ناهيلۍ سره بې معنا دی، ناهيلي له ژوند سره بې معنا ده، اسانتيا له کړاو وروسته راځي، له شپې وروسته ارومرو سهار راځي او وروستی يې دا چې هېڅ شی هم تل په يو حالت نه پاتې کېږي.

الله تعالی فرمايي:

((... حقيقت دا دی چې د هغه له رحمته پرته له کافرانو بل څوک نه ناهيلي کيږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(یوسف: ۸۷)

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایي:

((... او د خپل رب له لورېينې به لا څوك ناهيلى کېږي پرته له بې
لارې شوو.))

(الحجر: ٥٦)

د بدبينۍ او منفي فکر يوه نښه دا ده چې ډېرى خلک په دې باور کوي چې د نړۍ وخت پاى ته رسېدلى او د قيامت نښې ښکاره شوې دي. دوى په دې باور وي چې ښه والي خپل ټغر ور ټول کړى او بدۍ او بې لاريتوب په ګړنديتوب را روان دي. دوى په دې هم باوري وي چې دين يې تر منځ ورځ تر بلې پيکه کېږي او کفر او الحاد به ډېر ژر پر دوى برلاسى شي. دا ټول نظريات او افکار د دې لامل ګرځي چې د درملنې او بيارغونې له هيلې يې بې برخې کړي.

دا ډول خلک په دې هڅه کې وي چې د خپلې ناهيلۍ تيوري د پيغمبر عليه السلام له هغو احاديثو زباده کړي چې د قيامت د علامو او د کړاوونو د وخت اړوند موضوعات پکې راغلي. خو دا موضوع له يوې مخې توپير لري ځکه چې دوى پر ناکافي او ناسمو معلوماتو او پوهې باور کړى. کله چې يو څوک د دين په مأخذونو کې غور کوي چې د قيامت د ورځې او د هغې د نښو د نږدېکت په اړه څه بيان شوي، نو بايد په دې پوه وي چې نږدېکت او لرېوالى دواړه له يو بل سره تړلي دي. نو، دا امکان لري چې موږ زرګونه کاله له دې ورځې لرې اوسو، او يا ښايي ورته ډېر نږدې اوسو. الله تعالى فرمايي:

((...ښايي قيامت نژدې وي.))

(الاحزاب: ٦٣)

((... ښايي قيامت نژدې وي.))

(الشورى: ١٧)

((... نه درته راځي مګر ناڅاپه...))

(الاعراف: ١٨٧)

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم رسالت او مبعوث کېدل پخپله د قيامت يوه نښه ده، پيغمبر عليه السلام فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**((زه او قیامت دواړه داسې رالېږل شوي یو... بیا یې د شهادت او منځنۍ ګوتې سره یو ځای کړې.)) (۱)**

**نو، له دې امله له کاره لاس اخیستل چې ګنې مسلمانان او اسلامي امت د قیامت ورځې ته چمتوالی نیسي، داسې څه دي چې شریعت یې اصلاً نه پېژني او نه هم ورته غاړه ږدي. دا ځکه چې مسلمانانو ته امر شوی چې کار وکړي او تر وروستۍ سلګۍ لاس او پښې ووهي او تر هغه وخته کوښښ ته دوام ورکړي چې نور یې توبه نه قبلېږي او دا حالت به یوازې قیامت ته په نږدې ورځو کې پېښېږي. په دې ورځو کې به د فطرت عادي بڼه ګډه وډه او تغییر به وکړي: د بېلګې په ډول لمر به د ختیځ پر ځای له لویدیځ څخه را پورته کېږي. الله فرمایي:**

**((... هغه ورځ چې ستا د رب څه نښانې راشي نو بیا یې چا ته ایمان څه ګټه نه رسوي چې مخکې یې ایمان نه وي راوړی او یا یې په خپل ایمان کې څه ښېګڼه نه وي ترلاسه کړې...))**

**(الانعام: ۱۵۸)**

**رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته تر هغې شېبې پورې د کار کولو امر کړی چې ژوند خپلې وروستۍ سلګۍ وهي، پیغمبر علیه السلام فرمایي:**

**((که د قیامت ورځ راشي او په لاس کې مو نیالګی وي، نو و یې کرئ که امکان یې وي.)) (۲)**

**دلته مسلمان ته امر شوی چې نیالګی باید بې له کېنولو پرې نه ږدي که څه هم د قیامت راتګ په خپلو سترګو ویني او دا کار چاته ګټه رسوونکی هم نه وي. نو مسلمان باید له کار څخه غافل نه شي، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د قیامت راتګ ته هم لا ښه پرېمانه وخت پاتې وي.**

**نو کار په هر حال کې اړین او ستایلی دی، که څه هم دمګړۍ یې ګټه او مېوه نه وي. د انسان لپاره زیار، کار، هڅه او د خپلو کارونو ترسراوی ویاړ او عزت ګڼل شوی. په دې ځای کې به د پیغمبر علیه السلام ځینې هغه ویناوې رانقل کړم چې ښایي لیدلوري ته مې لا څرګنداوی وبښي:**

**۱- له ابن ابي طالب رض روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**

---

[۱] رواه البخاري و مسلم.

[۲] رواه احمد و بخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((له ما وروسته به د تورې شپې د برخو غوندې ازموينې وي؟ ومې پوښتل: ((له هغه څخه د وتلو لار څه ده؟ اې د الله رسوله!)) ويې فرمايل: ((د الله کتاب چې هغه څه پکې ليکل شوي چې له تا ړومبی پېښ شوي، له تا وروسته به پېښېږي او (د اختلافاتو) تر منځ مو پرېکړه کوونکی دی.)) (۱)

۲- له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت دی چې:

((ښو کارونو ته بيړه وکړئ، ځکه چې د تورې شپې د برخو په څېر ازمېيښتونه به دربانديې راشي. (داسې وخت به راشي) چې سهار به مو تن مؤمن وي او ماښام به کافر شي، او (هغه څوک چې) ماښام مؤمن وي، سهار به کافر شي او (داسې وخت به راشي) چې يو څوک به خپل دين د يوه ناڅيز دنيوي توکي په بدل کې وپلوري.)) (۲)

۳- له ابو ثعلبه نه روايت دی چې نبي کريم عليه السلام وفرمايل:

((له تاسې وروسته د صبر ورځې دي. په دې ورځو کې صبر کول به داسې وي لکه د ژوندۍ سکروټې په لاس کې نيول. هر څوک چې په دې ورځو کې نېک عمل ترسره کړي، د پنځوسو کسانو هومره اجر به ورکول وي. ومې پوښتل: اې د الله رسوله! آيا د هغوی د پنځوسو هومره اجر؟ ويې فرمايل: هو، ستاسو د پنځوسو هومره اجر.)) (۳)

۴- له حذيفة بن اليمان څخه روايت دی چې:

((خلکو به د الله له رسوله د ښېګڼو په هکله پوښتنې کولې او ما به ترې له دې وېرې چې پکې اخته نه شم د بدګڼو او بديو په اړه پوښتل. هغه وايي: ((ومې ويل: اې د الله رسوله! موږ په ناپوهۍ او بدۍ اخته وو، بيا الله له دې خير او ښېګڼې څخه برخمن کړو، نو آيا له دې وروسته به هم کومه بدۍ را منځته کېږي؟ ويې فرمايل: هو. ومې پوښتل: آيا له دې بدۍ وروسته به کومه ښېګڼه (هم) وي؟ ويې فرمايل: هو، خو ورانی به پکې وي؟ ومې پوښتل چې: څه ورانی به

[1] رواه الترمذي.
[2] رواه مسلم.
[3] رواه ابو داؤد و غيرهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري؟ ويې فرمایل: خلک به پر داسې سنتونو عمل کوي چې زما به نه وي او د داسې لارښوونو توصیه به کوي چې زما به نه وي. تاسو به د دې ورېتیا لرئ چې د اعمالو تر منځ یې توپیر وکړئ او رد یې کړئ. ومې پوښتل: نو آیا له دې خیر او ښېګڼې وروسته به کومه بدي وي؟ ویې فرمایل: هو، د جهنم د دروازې په لور بلونکي به وي: هر څوک یې چې بلنې ته ځواب ورکړي نو په جهنم کې به یې وغورځوي. نو ومې پوښتل: اې د الله رسوله! راته څرګند یې کړه. ویې فرمایل: هغوی به له موږ څخه وي او زموږ په ژبه به خبرې کوي.)) (۱)

د رسول صلی الله علیه وسلم داسې څرګند او لارښود حدیثونه مسلمانان له بدۍ او ګناه څخه را ګرځوي او د ښو کارونو په خوا یې هڅوي، پر هغه څه زړورتیا ورکوي چې سم دي، د الله تعالی په کتاب منګولو خښولو ته یې تشویقوي، د هغه د اوامرو په ترسراوي کې یې صبر ته هڅوي، او بل دا چې د هغو خلکو مخنیوی کوي چې خلکو ته د جهنم د اور په لور بلنه ورکوي.

## راتلونکی په هیلو او خوبونو پورې تړل:

یوه بله منفي او د ناړامۍ لاره د هغو خلکو ده چې د دې پر ځای چې په عقل، عمل او غوره پلان د راتلونکي هرکلی وکړي، راتلونکي ته یوازې د تشو هیلو او پوچو خوبونو نوم ورکوي. دا ځکه چې څه چې په هیلو او خواهشاتو ودان وي، هېڅکله هم سر ته نه رسېږي.

یوه سړي ابن سیرین ته وویل: بېګا مې خوب ولید چې لامبو وهم، خو په اوبو کې نه یم؛ او الوځم، خو وزرې مې نشته. د دې خوب تعبیر به څه وي؟ نو دې عالم ځواب ورکړ: ((ستا خوب دې ته نغوته ده چې ته یو داسې انسان یې چې په خوبونو او هیلو ژوند کوې.))

دغه راز، علي ابن ابي طالب یو ځل خپل زوی ته نصیحت کاوه چې په خپلو هیلو تکیه مه کوه، ځکه هیلې یوازې د ناپوهو خلکو د تکیې ځای وي.

دا د حیرانتیا ځای نه دی چې الله تعالی پر عیسویانو او یهودو نیوکه کوي چې په دې هیله ناست دي چې پرته له ایمان او نېک عمل څخه به جنت ته لاړ شي. الله تعالی فرمایي:

((او دوی ویل له یهود او نصاراؤ پرته بل هېڅوك جنت ته نه شي ننوتلای، دا هسې د دوی هیلې دي، ورته وایه که رښتیني یاست دلیل مو راوړئ. نه، بلکې چا چې الله ته ځان تسلیم کړ او دی نیك عمله

۱ رواه البخاري و مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو نو له خدای سره یې اجر شته چې نه به پرې څه ډار وي او نه به
دوی خوابدي شي.))

(البقرة: ۱۱۱ – ۱۱۲)

نه یوازې پر همدوی، بلکې الله تعالی پر مسلمانانو هم نیوکه کوي چې په دې ناسم باور اخته دي چې یوازې په نوم مسلمان کېدل به یې جنت ورته لازم کړي. رب العالمین فرمایي:

((نه ستاسو په هیلو (برابره) ده او نه د اهل کتابو، چا چې ناوړه کار
وکړ د هماغه بدله ورکول کیږي، او ځان ته به له الله پرته نه کوم
دوست مومي او نه څوك مرستندوی. او څوك چې ښه عملونه وکړي،
نارینه وي که ښځینه خو چې مؤمن وي نو دغسې خلك به جنت ته
ننوځي او د کجور زړي د چاود په اندازه به ظلم پرې ونه شي.))

(النساء: ۱۲۳ – ۱۲۴)

پر خواهشاتو یقین کول د کرکې وړ بلل شوی، خو کله چې هیله پر کار او عمل بدله شي، نور نو بیا هیله، تشه هیله نه پاتېږي.

همدا لامل دی چې د خواهشونو په سر ژوند مخته بیول او د الله تعالی په ښښنې، رحم او مهربانۍ تکیه کول یو ډول کمزورتیا او ناپوهي ده. الله تبارک و تعالی فرمایي:

((... د الله رحمت یقیناً نېکانو ته ور نږدې دی.))

(الاعراف: ٥٦)

((... رحمت مې په هر څه باندې خپور شوی دی نو دا به د هغو خلکو
لپاره ولیکم چې تقوی کوي، زکات ورکوي او زموږ په آیتونو ایمان
راوړي.))

(الاعراف: ۱۵۶)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

((تکړه انسان هغه دی چې خپلې بدګنې او بدۍ ومني او د آخرت
لپاره زیار وباسي، او کمزوری انسان هغه دی چې د ځان واګې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپلو خواهشاتو ته سپارلې وي او لا هم د الله تعالی د لورېينې او پېرزوينې په هيله ناست وي.)) (۱)**

**دا خبره د بې واکو خواهشاتو په اړه ده، خو تر کومه چې د هيلې موضوع ده، نو هيله او امېد د الله تعالی له خوا ستايل شوي دي، الله تعالی فرمايي:**

**((بې شکه هغوی چې ايمان راوړی او هغوی چې هجرت کړی او د الله په لار کې يې جهاد کړی، دوی د الله د رحمت هيله لري او الله مهربان بخښونکی دی.))**

**(البقرة: ۲۱۸)**

**يو نېک انسان وايي چې بې له عمل څخه د جنت غوښتنه کول، پخپله يوه ګناه ده او له ګناهونو څخه له ځان ساتنې پرته له الله تعالی ښښنه غوښتل د ناپوهۍ او بې عقلي نښه ده. همدا رنګه حسن بصري فرمايي ځينو د الله د مغفرت اړوند بې ځايه هيلې تړلې وي، حال دا چې په داسې حال مړ شوی وي چې په اعمال نامه کې يې د نېک عمل نوم هم نه وي. بيا يې د قرآن کريم دا آيت ولوست:**

**((او دا ستاسې هماغه ګومان وو چې په خپل رب مو کړی وو کوم چې تباه يې کړئ او (نن) تاوانيان وګرځېدئ.))**

**(فصلت: ۲۳)**

## د اوسمهال مينه وال:

**له خلکو ځينې داسې دي چې نه په تېر پسې ګوري او نه د راتلونکي هيله لري. دوی خپل ژوند په اوسمهال کې تېروي او په دې باور لري چې تېر مهال تېر او مړ شوی دی، له همدې کبله په هغه پورې ځان سرېښول يا يې په اړه فکر کول ګټه نه لري. دغه راز دوی راتلونکی د لاسرسي او اټکل وړ نه بولي؛ نو ځنګه چې ناڅرګند او مبهم دی، نو يو حقيقي انسان به هېڅکله هم په يوه ناڅرګند او نامعلوم څيز پورې ځان ونه نښلوي، دا ځکه چې د دې پايله به داسې بې ګټې وي لکه په شګو مانۍ ودانول او يا په هوا کې ليکل کول.**

**په دې ډول، له اوسمهال سره يې اړيکه د راتلونکي په اړه له فکر کولو څخه راګرځوي او له تېرمهال څخه د ګټې اخيستو لپاره يې له څټ ته کتلو منع کوي.**

---

[1] رواه الترمذي و غيرهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی یوازې د نن خلک وي، نه د خپل آخرت په اړه اندېښمن وي ځکه آخرت هم په راتلونکي کې دی، او نه د خپل تاریخ او میراث ارزښت ته قایل وي ځکه چې د دې دواړو اړیکه له تېرمهال سره ده او تېرمهال له نړۍ سره مخه ښه کړې. نو دوی یوازې د دمګړۍ په هکله فکر او اندېښنه کوي او بې له دې چې خپل تېرمهال را یاد کړي یا د راتلونکي په هکله غور او فکر وکړي اوسمهال زبېښي، له ستوني یې تېروي او له هرې خوښۍ یې پوره خوند اخلي. دوی تل همدا یوه جمله تکراروي: څه چې تېر دي، هغه تېر دي؛ څه چې راتلونکي دي، نامعلوم دي؛ او هغه ګړۍ چې ته پکې ژوندی یې ستا ده، نو خوند ترې واخله.

دا ډول خبرې ښایي د رښتینو مؤمنانو سره وښایي او دغه راز له هغو ماده پرستو سره هم ښایي ښې وبرېښي چې د خوندونو په لټه کې وي، ځکه که چېرته یو انسان له دمګړۍ شېبې پرته بل وخت ونه لري، نو ولې یې باید بې ځایه تېره کړي؟ ولې په هغه شېبه کې د الله تعالی عبادت او د سمو کارونو ملاتړ ونه کړي؟ ولې نېک اعمال ترسره نه کړي او ولې د خیر او ښېګنې د خپراوي لامل ونه ګرځي؟

خو د اوسمهال له کره او ژورې سپړنې او ځېرنې وروسته لیدل شوي چې اوسمهال د تېر او راتلونکي په منځ کې د ټوکو او ملنډو له یوې کرښې پرته بل هېڅ هم نه ده.

**روغ چلند**:

له وخت سره روغ چلند هغه لاره ده چې تېر، اوس او راتلونکي درېواړو ته په خپله غېږه کې ځای ورکوي.

**تېرمهال ته د ورکتو اړتیا**: انسان باید تېرمهال ته د زدکړې او د خپلو قومونو د برخلیک په اړه د پوهېدو په موخه ورتاو شي، ځکه چې تېرمهال د پېښو یوه ټولګه او د نصیحتونو زېرمتون دی. په دې تړاو الله تعالی فرمایي:

> ((له تاسو مخکې هم څه دورې تېرې شوې دي نو په ځمکه کې وګرځئ راوګرځئ، بیا وګورئ چې د (الهي دین) دروغ ګڼونکو انجام څنګه وو؟))
>
> (آل عمران: ۱۳۷)

> ((که تاسو ته څه ټپ در ورسېږي نو دښمن قوم ته خو هم دغه شان ټپونه رسېدلي دي او دا ورځې خو د خلکو ترمنځ اړوو را اړوو...))
>
> (آل عمران: ۱۴۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

((او ډېر داسې نبيان دي چې په خوا کې يې ډېر خداى پالونکي جنګېدلي دي خو د الله په لار کې ور رسېدلو مصيبتونو په وجه نه سست شول، نه کمزوري شول او نه به يې سر ټيټاوه او الله همداسې صابران خوښوي.))

(آل عمران: ۱۴۶)

((آيا نو دوى په ځمکه کې نه دي ګرځېدلي چې بيا يې زړونه داسې وي چې پوهېدلى ورباندې، يا غوږونه داسې چې اورېدلى يې ورباندې نو خبره دا ده چې سترګې نه ړندېږي، خو هغه زړونه ړندېږي چې په سينو کې دي.))

(الحج: ۴۶)

د دې ترخنګ دا هم اړينه ده چې د خپلو نېکو اسلافو څخه د را پاتې ميراث څخه هم د ګټنې هڅه وشي او هغه څه ترې واخيستل شي چې له دې عصر سره جوړجاړى کوي. نبي کريم عليه السلام فرمايي:

((پوهه د مؤمن ورکه ده، نو هر چېرته يې چې ومونده، دى يې له نورو زيات وړ دى.)) (۱)

نو، دا سيې نه ده چې يو زوړ شى له دې امله پرېښودل شي چې زوړ دى، ځکه کله نا کله زوړ شى هم په معيار پوره وي، لکه قرآن کريم – ځکه په دې کې د الله تعالى خبرې دي او هېڅکله زړښت نه مني. همدا د کعبې په اړه هم صدق کوي چې د الله کور او د حاجيانو د ورتګ ځاى وو، دى او تل به وي.

نو د نوښت ملاتړو هغه مهال له حده تېرى وکړ چې هر نوي شي ته يې لاسونه وپړکول، پر دوى مصطفى الرافعي،چې يو پوه مسلمان عرب وو، ملنډې ووهلې او ويې ويل چې دوى غواړي په خپل دين، ژبې، لمر او سپوږمۍ کې نوښت رامنځته کړي!

که څه هم نوښت او زړښت له يو بل سره تړلي دي، ځکه ښايي يو څوک يو زوړ شى نوى وګڼي او ښايي ځينې نور بيا يوه نوي شي ته د زوړ په سترګه وګوري. په دې سربېره، هېڅ نوى څيز به

---

۱ رواه الترمذي و ابن ماجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل نوی پاتې نه شي، ځکه څه چې نن زاړه دي هغه پرون نوي وو او څه چې نن نوي دي هغه به سبا ته زاړه وي.

د هرې ورځې په پای کې انسان باید تم شي او له ځان سره حساب وکړي او وګوري چې څه یې کړي او ولې یې کړي او څه یې نه دي کړي او ولې یې نه دي ترسره کړي. له خوب مخکې دا عمل ترسره کول، غوره ګڼل شوی.

په دې وخت کې ځان ارزول د انسان د پرمختګ نښه ده، ځکه په دې وخت کې انسان له خپل ذهن څخه کار نه اخلي چې د خپلو ارمانونو په هکله پرېکړه وکړي او له خپل وجدان څخه بې برخې وي چې د خپلو خوښیو اړوند قضاوت وکړي.

دی خپل ایمان د یوه عسکر په توګه په ځان ګماري چې د ده چلند ارزوي، د یوه څارنوال په توګه چې د ده د نیتونو او کړو وړو څارنه کوي او یا قاضي چې دی ورته خپل ځان سپاري. له دې لارې انسان بدیو ته د لېوالتیا پر ځای ځای ته رسېږي چې په حرامو د اخته کېدو او له اړینو او لازمي کړنو څخه د مخ تاوولو له امله خپل ځان ملامتوي. وړاندې په یاد شوي حدیث کې وویل شوو: ((یو روغ انسان باید څلور ساعته ولري... او په دې څلورو کې ساعتونو یو دا دی چې: د خپلو اعمالو محاسبه او ارزونه وکړي.)) (۱)

عمر ابن الخطاب رض وایي: یو انسان باید خپل اعمال حساب او وتلي، مخکې له دې چې الله دا کار ترسره کړي. او د عمر رض حال دا وو چې هره شپه به یې خپلې پښې وهلې او له ځان څخه به یې د خپلو کړیو کارونو پوښتنې کولې.

میمون ابن محران وایي: یو تقوا لرونکی انسان په خپل ځان له جابر واکمن یا بخیل ملګري څخه هم ډېر سخت وي.

حسن بصري رح وایي د قیامت په ورځ به ځینو خلکو ته سخته سزا نه ورکول کېږي ځکه هغوی به پخپله له ځان سره سخت او زېږ چلند کړی وي؛ خو ځینو ته به ډېره سخته سزا ورکول کېږي ځکه هر څه ته به یې په تېته سترګه کتلي وي بې له دې چې د خپلو اعمالو اړوند قضاوت وکړي. حسن بصري د دې خبرې په څرګنداوي کې زیاتوي چې په خپل ځان زیږوالی او سختي کول د هغه شي د لټون په معنا ده چې یو څوک یې غواړي او اړتیا ورته لري، خو بیا هم لاس نه ور نږدې کوي، ځکه هغه شی ناروا او حرام وي. د دې معنا دا هم ده چې کله یو څوک یو ناوړه

---

۱ د حدیث یوه برخه چې ابن حبان او الحکیم روایت کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار ترسره کړي، نو خپل ځان پر وبولي، توبه وباسي او له الله سره ژمنه وکړي چې بیا به هېڅکله هم دې کار ته نه ور ګرځي.

پکار ده چې دا ډول چلند هره ورځ، په څو ورځو کې یا لږ تر لږه په اونۍ کې یو ځل له ځان سره ترسره شي، نو په دې ډول به وکولی شي چې د خپلو اعمالو بشپړ انځور وویني. او ښه به وي چې دا انځور لا زیات پراخ کړی شي تر څو د هرې میاشتې او هر کال په پای کې لا ډېر اغېزمن او ګټور ثابت شي، ځکه همدا هغه لاره ده چې له مخې یې انسان کولی شي له خپل تېر څخه زدکړه وکړي او د راتلونکي اصلاح او سمون ترسره کړي.

د لویدیځوالو یو نا اشنا ابتکار چې له بده مرغه مسلمانان یې هم پیروي کوي د کلیزو او د یو چا د تېر شوي کال په خوښۍ نمانځل او بیا په دې کې خوراک او څښاک کول ده. نه یوازې دا، بلکې په دې کې د یو چا د کلونو په شمېر شمعې هم روښانه کېږي او یو بل ته مبارکیانې او ډالۍ ورکوي.

یو عاقل مسلمان له دې څخه ډېر لوړ مقام لري چې په پټو سترګو د یوه بې معنا او بې ګټې دود تقلید او متابعت وکړي، بلکې له ده سره ښایي چې په دې فرصت کې د خپل ژوند تېر شوي کال ته وګوري او غور پکې وکړي. په دې ډول به یې د هغه هوښیار سوداګر لاره خپله کړې وي چې د هر نوي کال په پیل کې خپل ټول ریکارډونه او حسابونه راګوري تر څو د خپلو ګټو او تاوانونو کچه ور معلومه کړي او له الله غواړي چې نن ورځ یې د پرون او راتلونکي ورځ یې د نن په پرتله غوره وګرځوي.

د خپل ټول کال ریکارډونه راکتل یو غوره کار دی، ځکه یوه ورځ به د الله جل جلا له په وړاندې د دې کال په هکله پوښتنه ور څخه کېږي. بله دا چې کال کومه لنډه موده نه ده، ځکه یو کال دولس میاشتې، یوه میاشت دېرش ورځې، یوه ورځ څلور ویشت ساعته او یو ساعت شپېته دقیقې کېږي، یوه دقیقه شپېته ثانیې او هره ثانیه د الله تعالی یو ستره لورېینه ده او د هرې ثانیې په هکله به انسان پوښتل کېږي او په وړاندې به یې مسؤل وي.

نو یو انسان ته بویه چې د خپل ځان او هغه ژوند لپاره چې تېر شوی او بېرته نه راګرځي، خفګان احساس کړي. الله دې پر حسن بصري ورحمېږي، دی فرمایي: ((یاابن آدم! انما أنتَ أيَّامٌ، فاذا ذَهَبَ يَومٌ ذَهَبَ بَعضُک.

ژباړه: اې د آدم بچیه! ته د ورځو له یوې ټولګې پرته بل څه نه یې، که یوه ورځ دربانديې تېره شوه، نو داسې وګڼه چې ستا یوه برخه هم تېره شوه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه څه دي چې هر عاقل انسان يې بايد ترسره کړي، خو له بده مرغه، نن ورځ د عاقلو انسانانو شتون له نشت سره مخ شوی دی.

**يو ليد د راتلونکي په لور**: انسان، فطرتاً، د راتلونکي هيله لري او نه شي کولی له پامه يې وغورځوي او يا مخ ترې واړوي. کټ مټ داسې لکه ده ته چې د تېر په لور د ورکړېدو لپاره حافظه ورکول شوې، په همدې ډول د راتلونکي د انځورولو لپاره د تخيل او انځورونې ځواک ورکول شوی.

د راتلونکي يوه ځانګړنه دا ده چې د يوه نامعلوم او نامريي ځيز يوه برخه ده. له همدې کبله ويل کېږي چې يو څوک په دې نه پوهېږي چې په راتلونکي کې څه رازونه نغښتي او څه ښېګڼې او بدۍ يې پټې کړې.

((... او هېڅ ساکښ نه پوهيږي چې سبا به څه ترلاسه کوي؟...))

(لقمان: ۳۴)

د راتلونکي يوه بله ځانګړنه دا ده چې نږدې دی، او توپير نه کوي چې انسان يې په څومره لرېوالي باور لري. له همدې امله دا به ړښتيا وي چې ووايو، له نن سره سبا راځي او سبا له هغه څه ډېر لرې نه دی چې يو څوک يې تمه لري. الله تعالی فرمايي:

((... او د قيامت معامله لکه د سترګو رپ لا څه چې ډېره نژدې ده، بې شکه الله په هر څه قادر دی.))

(النحل: ۷۷)

يو عاقل انسان هغه دی چې راتلونکي ته ځان تياروي او چمتوالی ورته نيسي، هغسې چې الله فرمايي:

((اې مؤمنانو الله نه ووېرېږئ او هر کس دې وګوري چې د سبا دپاره يې څه وړاندې لېږلي؟...))

(الحشر: ۱۸)

هغوی چې دا فکر لري چې دين انسان له تېرمهال سره تړي، په حقيقت کې د تېرمهال پر اړتيا او ړښتيني فطرت ناسم پوه شوي. دا ځکه چې د دين تر ټولو اساسي دنده د يوه انسان تلپاتې ژوند يا په بل عبارت راتلونکي او يوه داسې ژوند ته چې تل پاتې کېدونکی او د اوس په پرتله ډېر غوره دی، اماده کول ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغمبر علیه السلام فرمایي:

((بې له شکه چې بنده د دوو شیانو د وېرې تر منځ دی: هغه وخت چې تېر شوی او په دې نه پوهېږي چې الله به ورسره څه کوي، او هغه وخت چې پاتې دی او په دې نه پوهېږي چې الله به د څه امر ورته کوي. نو پکار ده چې بنده د خپل ځان لپاره له ځان څخه ګټه واخلي، له خپل ژوند څخه د خپل راتلونکي ژوند لپاره ګټه پورته کړي، له خپلې ځوانۍ مخکې له زړښت څخه؛ ځکه قسم په هغه ذات چې زما روح یې واک کې دی، له مرګ وروسته به هېڅا ته هم اجازه ورنه کړی شي چې ښنه وغواړي او په آخرت کې به یې له جنت او یا جهنم پرته بل ځای نه وي.))

خو دا په دې معنا هم نه ده چې یو مذهبي شخص دې یوازې د خپل آخرت په هکله اندېښنه کوي او خپل دنیوي او راتلونکی ژوند شاته وغورځوي. اسلام انسان ته د سبا ورځې د دیني او دنیوي دواړو چارو د چمتوالي او احتیاط ښوونه کوي. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ژوند د ټولو مسلمانانو لپاره یوه غوره بېلګه دی. هغه مبارک هغه مهال د راتلونکي په اړه فکر کړی وو چې کله یې د اوس او خزرج له قبیلو سره د مرستې او ملاتړ تړون لاسلیک کړ. دغه راز د همدې راتلونکي فکر وو چې د هجرت پرېکړه یې وکړه تر څو د اسلامي شریعت او اسلامي ټولنې لپاره یو پوخ اساس او بنسټ ودان کړي.

په همدې ډول، د عقبه د لومړي او دوهم تړون په لاسلیک او د یثرب په لور هجرت کول د سخت کار او د راتلونکي لپاره د غوره پلان پایله وو.

دغه راز، په دنیوي چارو کې هم، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د راتلونکي ژوند غم خوړ او د خپلې کورنۍ لپاره به یې د یوه کال توښه زېرمه کوله. هغه مبارک هېڅکله هم دا کار پر الله تعالی باندې له ایمان سره په تضاد او ټکر کې نه باله.

**د اوسمهال فکر**: وړاندې وویل شوو چې انسان باید له خپل تېرمهال څخه زدکړه وکړي او راتلونکي ژوند ته چمتوالی ونیسي.

((... او هر کس دې وګوري چې د سبا دپاره یې څه وړاندې لېږلي؟...))

(الحشر: ۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په دې سربېره، دی باید له اوسمهال څخه ګټه واخلي او د خپل ژوند له هرې ګړۍ مخکې له دې چې تېره شي ګټنه وکړي.**

**ابو حامد الغزالي رح فرمايي: وخت په درې ډوله دی: يو هغه چې تېر شوی (نو انسان په دې هکله هېڅ هم نه شي کولی، که يې په کړاو کې تېر کړی وي او که په هوساينه کې)؛ دوهم هغه چې راتلونکی دی (په دې هکله انسان نه پوهېږي چې وبه يېويني او که نه)؛ او وروستی يې اوسمهال دی (په دې ځای کې انسان بايد ځان ساتنه وکړي او له خپل چلند سره احتياط وکړي ځکه الله يې څارونکی دی). که په دې حالت کې دی ومړ نو په دمګړۍ به غم او خفګان نه کوي او که ژوندی پاتې وي، نو پکار ده چې په راتلونکي ساعت کې هم هماغه کار وکړي. نو، يو انسان بايد داسې چلند وکړي لکه وروستۍ ساه چې اخلي، په دې معنا چې پکار ده چې له هر هغه څه خبر وي چې ترسره کوي يې. (١)**

**په دې تړاو نبي  کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:**

> **((يو عاقل انسان – چې لېونی نه وي – بايد څلور ساعته ولري: يو ساعت بايد د خپل خدای (عبادت) ته ورکړي؛ يو ساعت د خپلو اعمالو محاسبه وکړي؛ يو ساعت د الله تعالی په مخلوق کې په غوره کولو تېر کړي او يو ساعت د خپل خوراک او څښاک د اړتيا په بشپړولو کې ولګوي.)) (٢)**

**دا ساعت به ورسره په راتلونکو ساعتونو کې مرسته وکړي او تر دې چې په هغه وخت به هم ورسره کومک وکړي چې غړي يې په خوراک او څښاک بوخت وي؛ خو که په ورته وخت کې د خوراک په خوند او ډول کې غور او فکر وکړي، نو دا به ورته له هغه څه ډېر غوره وي چې د ده غړو ترسره کړي وي.**

**په دې ځای کې بايد د نبي کريم صلی الله عليه وسلم هغه حديث را ياد کړو چې وړاندې تېر شو:**

> **((که د قيامت ورځ راشي او په لاس کې مو نيالګی وي، نو ويې کرئ که امکان يې وي.)) (٣)**

---

[١] د امام غزالي احياء علوم الدين وګورئ.

[٢] رواه ابن حبان و الحکيم.

[٣] رواه احمد و بخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته باید یوه شېبه تم شو او فکر وکړو چې رسول الله ص ولې د نیالګي د کېنولو امر کړی.

بې له شکه چې دا انسان به د هغه څه مېوه ونه خوري چې په لاس کې یې دي، ځکه په دې ځای کې مور د کرلو د هغه عادي بهیر په هکله نه غږېږو چې نن یې وکرو او سبا یې وربېو.

یقیناً، دی یې د خپل راتلونکو نسلونو لپاره هم نه کري، لکه هغه زوړ بوډا چې کله ترې وپوښتل شوو چې د ښوونو دا ونه چاته کرې، حال دا چې د مرګ خوله ته ورنږدې یې؛ نو زوړ سړي ځواب ورکړ چې د راتلونکو ښتونو لپاره یې کېنوم، هماغسې چې زما مخکنیو زما لپاره کېنولي دي.

خو، په حدیث کې یاد شوی حالت د دې په څېر نه دی، ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د یوه داسې وخت په اړه غږېږي چې قیامت را رسېدلی، هله چې چا ته هېڅ هیله هم نه وي ورپاتې. نو، په دې شېبه کې ولې باید یو څوک نیالګی کېنوي؟

د دې امر ښکاره موخه د کار لپاره د کار کولو درناوی او لوړاوی ښودل ده، هېڅ توپیر نه کوي چې چا ته یې ګټه رسېږي او که نه؛ او بله دا چې مسلمان ته لارښوونه وکړي چې دی باید د ځمکې له ښېرازۍ او رغولو څخه هېڅکله هم لاس وانه خلي. په بل عبارت هغه باید تر هغو پورې زیار او کار پرې نهږدي، څو چې ژوندی وي. که څه هم اسرافیل د ژوند پای اعلان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵)

## انسان څنګه د ژوند موده اوږدولی شي؟

په دې کې شک نشته چې انسان فطرتاً له ژوند سره مینه لري او دا خوښوي چې اوږد ژوند وکړي او که وکولی شي نو د تل لپاره ژوندی پاتې شي. همدا د تلپاتې ژوند مینه وه چې شیطان ته یې لاره هواره کړه ترڅو د بشریت پلار حضرت آدم علیه السلام وغولوي او ګناه ته یې ولمسوي. الله تعالی فرمایي:

((خو شیطان هغه ته وسوسه ورواچوله ویلې اې آدمه! د همېشني ژوند او نه ختمېدونکې پاچايي ونه دروښيم؟))

(طـه: ۱۲۰)

دين پخپله اوږد ژوند د الله يوه پېرزوينه ګڼي، په دې شرط چې په سمو کارونو کې وکارول شي او هغه څه پکې ترسره شي چې د انسانيت لپاره غوره او ګټور دي. له نبي کريم ص څخه يو ځلې د تر ټولو غوره انسان په هکله وپوښتل شوو، نو ويې فرمايل:

((هغه څوک چې اوږد ژوند ولري او غوره کارونه پکې وکړي.)) (۱)

دا هم يو حقيقت دی چې مرګ د انسانانو ژوند ور ويجاړوي – ښايي يو ځوان هلک د ځوانۍ د عروج په پړاو کې را ګير کړي، يا ښايي يوه ناوې د واده په لومړۍ شپه ورسره مخ شي. ښايي يو تې خور ماشوم له خپل مور او پلار څخه بېل کړي، يو سوکاله شتمن له خپلو مزو - چړچو سره خدای په امانۍ ته اړ کړي او يا ښايي يو لوی واکمن له خپلو ساتونکو او ملګرو څخه د تل لپاره بېل کړي. له همدې امله مرګ ته د ((د خوښيو پای ټکی)) او ((د ډلو بېلوونکی لامل)) ويل کېږي.

که څېرته مرګ وروستی پړاو او د ژوند پای وي، نو د انسان د ژوند موده ډېره لنډه ده، توپير نه کوي چې څومره موده ژوند کوي. نو انسان له يو څو ورځو يا ساوو پرته بل څه نه ده چې مرګ په هره شېبه کې بې له دې چې خبرداری ورکړي، د پای ټکی ورته ايښودلی شي. پيغمبر عليه السلام فرمايي:

((ژوند وکړئ څومره مو چې زړه غواړي، ځکه بيا به هم مرئ. مينه وکړئ څومره چې غواړئ، ځکه بيا به مو هم تر منځ بېلتون راځي.

---

۱ رواه الترمذي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړئ څه مو چې زړه غواړي، ځکه د خپل عمل په بدل کې به جزا
وینئ او په اړه به یې پوښتل کېږئ.)) (۱)

د ساینس او طب د دومره پرمختګ سربېره هم، هېڅوک نه شي کولی چې د زوړوالي مخه ونیسي، یا یوه زوړ شخص ته بېرته خپله ځواني ور وګرځوي. پیغمبر علیه السلام فرمایي:

((بې له شکه چې الله تعالی هېڅ ناروغي پرته له شفا او درملنې نه ده
پیدا کړې، پرته له زوړوالي.)) (۲)

دغه راز د یو چا اصل عمر هم د هغه د کلونو په شمېر نه اندازه کېږي چې له زوکړې څخه تر مړینې پورې یې تېر کړي وي. دا الله دی چې د هغه د ښو اعمالو له مخې یې موده ورته ټاکي. په دې ځای کې باید څوک حیرانه نه شي چې یو څوک له سل کاله زیات ژوند کوي او بیا یې هم د نېکو اعمالو شمېر صفر وي، او یا له صفر څخه هم لاندې وي، په دې معنا چې تر پور لاندې وي. خو بل خوا داسې خلک به مو هم لیدلي وي چې په ځوانۍ کې مري خو اعمال نامه یې له لویو لاسته راوړنو او غوره کارونو څخه ډکه وي.

په دې تړاو یو هوښیار وایي: یو انسان ښایي اوږد ژوند وکړي خو ډېره کمه لاسته راوړنه ولري، مګر بل لور ته یو څوک ښایي ډېر اوږد ژوند ونه کړي خو ډېر څه ترلاسه کړي. نو، هغه څوک چې عمر یې له غوره اعمالو او برکته ډک وي، هغه څوک دی چې الله پرې په لنډه موده کې خپلې بې شمېره پېرزوینې کړې وي.

نو یو انسان کولی شي چې د الله تعالی د رضا د لټون لپاره د کوښښ له لارې د خپل ژوند موده زیاته کړي، په دې چې څومره یې چې تقوا، رښتینولي او ایمان زیات وي، هماغومره به یې ثواب زیات او اجر به یې غوره وي.

دا په دې معنا چې د یو چا د کړنو ارزښت او مرتبه په دې پورې اړوند ده چې د نورو په ژوند کې څومره ګټور او اغېزمن دي. د بېلګې په ډول، کېدای شي چې یو شخص خلکو ته سمه لاره وښيي، له بدیو یې وساتي، له کړاوونو یې وژغوري، د ظلم له منګولو یې خلاص کړي، د دښمنانو پر وړاندې یې ودرېږي، او یا ښایي یو بل داسې کار وکړي چې ګټه یې وګړو، ډلو او یا ټول قوم ته ورسېږي.

---

۱ رواه الطبراني والشیرازي.

۲ رواه البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا لامل دی چې کار ته په اسلام کې ځانګړی مقام ور په برخه دی او د الله په لاره کې زیار ویستل د نورو ټولو کارونو په سر کې ځای نیسي. پیغمبر علیه السلام فرمایي:

((هغه څوک چې د ښېګڼې په لور بلنه کوي، د هغو خلکو په اندازه اجر به ورکول چې د ده متابعت کوي، او دا به د هغوی له اجر څخه هېڅ هم کم نه کړي.)) (۱)

همدا رنګه فرمایي:

((په جنت کې سل درجې دي چې الله تعالی د هغو خلکو لپاره چمتو کړې چې د الله د رضا په لټه کې وي، د دوو درجو تر منځ یې دومره واټن دی لکه د ځمکې او آسمان.)) (۲)

دغه راز، په اسلام کې د واکمنو او مشرانو عدل او نیاو هم ځانګړی مقام لري. دا د هغې ښېګڼې له امله چې ټولنو او قومونو ته یې رسېږي، د هغه ځواک له امله چې له یو چا سره پرې مقابله کوي، د هغې مبارزې له کبله چې د یو چا د خواهشاتو مخنیوی کوي او همدا رنګه د ځانغوښتنې او ظلم د مخنیوي له امله. همدا لامل دی چې پیغمبر علیه السلام فرمایي:

((د یوه عادل واکمن یوه ورځ د شپېته کاله له عبادت څخه غوره ده.)) (۳)

یو ځلې د پیغمبر علیه السلام یو صحابي له یوې درې څخه تېرېده چې د تازه اوبو یو کوهي یې درلود، د صحابي دا ځای خوښ شو او فکر یې وکړ چې له خلکو یې وپېري او د عبادت لپاره همدلته استوګن شي، خو پرېکړه یې وکړه چې لومړی باید له پیغمبر ص څخه اجازه واخلم. پیغمبر علیه السلام ورته وفرمایل:

((داسې مه کوه، ځکه د الله تعالی په لاره کې ستا پاتې کېدل په کور کې د اویا کالو له عبادت څخه غوره ده. آیا غواړې چې الله دې ګناهونه وبښي او جنت ته دې ننباسي؟ (که هو، نو) د الله په لار کې جهاد وکړه: هر څوک چې د الله په لار کې جنګ کوي، (که څه هم

---

[1] رواه مسلم.
[2] رواه البخاري.
[3] رواه الطبراني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هومره موده ولګوي چې) د دوو اوښو په لوشلو کې تېرېږي، ارومرو
به جنت ته ننوځي.)) (۱)

ببلا ببل فکتورونه اعمال اغېزمنوي، خو خوښي هغه چا لره ده چې تر ټولو غوره اعمال ترسره کوي. الله تعالی فرمايي:

((... نو زما بندګانو ته زېرى ورکړه، هغوى چې خبرې ته (ښه) غوږ
ږدي، بيا چې کومه ډېره غوره وي د هماغې متابعت کوي...))

(الزمر: ۱۷ – ۱۸)

ډېرى داسې وګړي شته چې په لنډ وخت کې د لويو لاسته راوړنو او خارق العادة شيانو په ترلاسي برلاسي شوي دي. دا يوازې د انساني وړتياوو پايله نه وه، بلکې د الله تعالی لورېينه وه چې هغوى ته يې د دې توفيق او لارښوونه وکړه.

زموږ لپاره دا بسنه کوي چې دا را ياد کړو چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په څه ډول خلک له تيارو څخه رڼا ته را وايستل او د بشريت تاريخ ته يې په در ويشت کاله کې بدلون ورکړ.

په همدې ډول د يوه نوي دين بنسټ يې کېښود، يو بشپړ پښت پرې راټول شو، او په لنډ وخت کې يې د کامل امت او يوه نړيوال هېواد بنياد کېښود. دا د هغو ټولو سختيو او ستونزو سربېره وو چې د رسالت له لومړۍ ورځ څخه يې لا په لاره کې د خنډ په توګه پرتې وې.

دا مه وايئ چې دا نو بې ځايه ده چې خپل ځان له نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره پرتله کړو، ځکه د هغو خو د معجزو په وسيله ملاتړ کېدى. بلکې د پيغمبر ص ژوند د نبوت او کړاوونو په جريان کې د عادي انسان د ژوند په څېر وو. د هغه اصلي معجزه قرآن کريم وه، نه کومه خارق العاده پېښه. هو، الله تعالی يې په معجزو ملاتړ کړى، خو يوازې هغه مهال چې خپلې ټولې هڅې يې ترسره کړې. د بېلګې په ډول، د هجرت پر مهال يې الله په زړه ډاډ او سکينت نازل کړ او په نامريي ځواکونو يې مرسته ورسره وکړه. همدا رنګه د بدر په غزا کې الله تعالی د جنګ لپاره زر پرښتې د مرستې په پار ور ولېږلې، الله تعالی فرمايي:

((او دا يې صرف تاسو ته يو زېرى وګرځولو او چې زړونه مو پرې ډاډه
شي...))

(الانفال: ۱۰)

---

[1] رواه الترمذي و الحكيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرته د راشده خلفاوو دور ته وګورو او د هغو خلکو دور ته چې د دوی متابعت يې وکړ، نو احساس به کړو چې دا کومه معجزه نه وه چې ټوله نړۍ يې فتح کړه، اسلام يې خپور کړ او د ځو لسيزو په لړ کې يې ملتونه د هغوی د پوچو او له خراقاتو ډکو اديانو او دودونو څخه را وايستل. تاريخپوهان دې ديني، معنوي، علمي، ټولنيز او سياسي اوښتون ته ګوته په غاښ ولاړ دي چې اسلام له يوې پېړۍ څخه هم په کم وخت کې رامنځته کړ.

که همدا رنګه د عمر بن عبد العزيز دور ته وګورو، نو پوه به شو چې له دوه نيمو کلونو څخه هم په کمه موده کې يې د ځمکې مخ له عدل او برابرۍ څخه ډک کړ، دا ځکه چې هغه له پيل څخه لا هوډ درلود چې د خلافت په روان حالت کې بدلون راولي، ويې رغوي او د بې عدالتۍ ښکار شويو ته خپل حقونه ور وسپاري. ده له الله پرته له هېچا هم وېره نه لرله.

نو څومره زيات چې يو څوک په خپله لار کې پراته خنډونه او کړاوونو وګالي، او ډېر لږ ملاتړ او کومک ورسره وشي، نو هماغومره به يې د الله له لوري اجر زيات او غوره وي.

له همدې کبله ده چې د پيغمبر ع د صحابوو اجر د نورو په پرتله زيات دی ځکه هغوی هغه مهال په الله ايمان درلود چې نورو خلکو پرې ايمان نه درلود، او په داسې وخت کې يې پر حضرت محمد ص ايمان راووړ چې بل هر چا ور پسې سپکې سپورې ويلې. دا د هغه لومړنيو مهاجرينو او انصارو په اړه هم صدق کوي چې اجر يې له هغو خلکو زيات دی چې د مکې له سوبې او وروسته له دې چې د اسلام نوم په ښکاره ډول ښکارند او د بريا اوج ته ورسېد، ايمان راووړ. الله تعالی فرمايي:

> ((... په تاسو کې چې له فتح (مکې) وړمبی چا لګښت کړی او جنګېدلي هغه له نورو سره برابر نه دي، دوی په مرتبه کې له هغو خلکو ډېر لوی دي چې وروسته (له فتح مکې) يې لګښت کړی او جنګېدلي. البته د ښېګڼې وعده الله ټولو سره کړې ده...))
>
> (الحديد: ١٠)

له همدې امله، کله چې په ټولنه کې ورانی او انارشي وي، نو د هغه مهال نېک اعمال ډېر غوره ګڼل کېږي. دا په دې چې کله واکمن ظلم ترسره کوي، شتمن بې لارې وي، زور واکي له غرور او لويی سره را پورته شوي وي، علماوو د غوره مالۍ لار نيولې وي، زنا عامه شوې وي، وراني سر را پورته کړی وي او ښېګڼه تر خاورو لاندې شوې وي، نو هغه مهال نېکي او ښېګڼه ستونزمنه او له نشت سره برابره وي. همدا هغه وخت دی چې زموږ پخواني علما يې د ګډوډۍ او وراني زمانه بولي او زموږ په دور کې د ((نوي اسلامي عصر)) په نوم يادېږي. نو په دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وخت کې هغه خلک چې د الله تعالی پر دین عمل کوي او د هغه خوښي لټوي، د پیغمبر علیه السلام د نوو صحابوو په څېر دي. پیغمبر علیه السلام فرمايي:**

**((د ګډوډۍ او اختلاف په وخت کې عبادت ترسره کول، زما په لور له هجرت سره برابر دی.)) (۱)**

**له حضرت ابو امیه نه روایت دی چې زه ابو ثعلبه ته ورغلم تر څو د دې آیت معنا ترې وپوښتم چې: ((اې مؤمنانو! د خپلو ځانو غم کوئ، د بل چا بې لارېتوب کوم تاوان نه درته کوي...)) (۲) نو هغه ځواب را کړ چې ما پخپله هم د دې آیت په اړه له پیغمبر علیه السلام څخه پوښتنه وکړه، او راته ویې فرمایل:**

**((له هغه څه سره سم په ګډه مشوره وکړئ چې پر عدل ولاړ او هوښیارۍ ته نږدې وي او یو بل سره له شخړو ځان وژغورئ تر هغو چې د شتمنۍ او مقام مینه، د خواهشاتو پالنه، نړۍ ته (له آخرت څخه) لومړیتوب ورکول رامنځته شي او هر کس یوازې خپله رایه او نظر سم وګڼي؛ او داسې څه به وینئ چې له تاسې سره به یې هېڅ اړیکه نه وي، نو هغه مهال خپل ځان وساتئ. له تاسې وروسته د صبر ورځې دي او په دې ورځو کې به صبر کول داسې وي لکه یوه ژوندۍ سکروټه په لاس کې نیول. هر څوک چې په دې وخت کې (غوره) عمل ترسره کړي نو د خپل ځان په څېر د پنځوسو کسانو اجر به ترلاسه کړي.)) (۳)**

**په یوه بل روایت کې راځي:**

**((وویل شو اې د الله رسوله! زموږ د پنځوسو اجر به راکول کېږي او که د هغوی؟ ویې فرمایل: ستاسو د پنځوسو هومره اجر به درکول کېږي.))**

**دا حدیث پر ښېګڼو د امر او له بدیو د مخنیوي پر اړتیا ټینګار کوي تر هغه وخت پورې چې یو څوک داسې غوږ ولري چې پرې واوري، داسې زړه ولري چې احساس پرې وکړي او په هر ډول غبرګون کې خپله هیله له لاسه ور نه کړي. خو کله چې ټولې دروازې تړلې وي او مسایل تر دې**

---

[۱] رواه مسلم.
[۲] المائدة: ۱۰۵
[۳] رواه اابن ماجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریده رسېدلي وي چې د زغملو وړ نه وي، نو بویه تر هغو صبر وکړي چې الله تعالی پخپله د یو څه پرېکړه وکړي.

په دې ځای کې صبر د لاس تر زنې کېناستو او ارامتیا مترادف نه ده، داسې چې ورته وګورو او په تمه ورته پاتې شو، بلکې دلته صبر داسې دی لکه معنوي خوټېدل، کټ مټ هماغسې لکه په اور چې یو چاینکه جوش کوي. له همدې امله پیغمبر علیه السلام فرمایي: په دې وخت کې (صبر) داسې دی لکه په لاس کې د ژوندۍ سکروټې اخیستل.

په دې ځای کې صبر دا معنا هم لرلی شي چې د یوه داسې ګټور کار په اړه فکر وشي چې زغم او حوصلې ته اړتیا ولري او وکولی شي دا فساد له جرړو را وباسي. خو دا ډول کار د رښتینو او باوفا مؤمنانو همغږي غواړي ځکه چې یو کس دا کار په یوازې ځان نه شي کولی خو یوه ډله یې کولی شي. او کله چې یو څوک د خپلو ملګرو په وسیله ځواک ومومي، الله تعالی تل د داسې ډلې مرستندوی وي. په دې حدیث کې له یاد شوي کار څخه مراد هغه کار دی چې له دې وړاندې صحابوو ترسره کړی، لکه د حق پلوي کول، د اسلام د ملاتړ لپاره د ځواکونو را غونډول، د ناپوهۍ په خلاف جنګېدل، د الله تعالی د رضا لپاره د ځان او مال قرباني ورکول او تر هغو پورې صبر کول چې الله خپله وروستۍ پرېکړه واوروي.

## د انسان د ژوند دوهم پړاو:

هغه انسان چې الله تعالی له وخت څخه د ګټنې بریا ور په برخه کړې وي، له مړینې وروسته هم کولی شي د خپل ژوند موده وغځوي. دی به مړ وي، خو بیا به هم ژوند کوي؛ او ښایي د ژوندیو لپاره هغه مهال هم د یو څه د کولو وړتیا ولري چې کله په قبر کې وي.

دا یوازې هغه مهال امکان لري چې کله تر شا یوه ښېګڼه پرېږدي چې ژوندیو خلکو ته یې ګټه ورسېږي. کېدای شي ګټور علم، نېک اعمال او یا داسې اغېز پرېږدي چې نورو ته یو ساری واوسي، د ښېګڼې کوم کار وکړي، او یا نېک اولاد پرېږدي. دا ډول شیان د هغه په رښتیني او د تقوا په ژوند کې زیاتوالی رامنځته کوي. دا د پیغمبر علیه السلام له دې حدیث څخه ځرګنده ده، فرمایي:

((کله چې د آدم اولاده له نړۍ څخه سترګې پټې کړي، نو هر څه پای
ته ورسېږي پرته له درې شیانو: هغه صدقه چې پرلپسې ترې ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستل کېږي، هغه علم چې ګټور وي، او یا نېک اولاد چې د ده لپاره دعا کوي.)) (۱)

په یوه بل حدیث کې چې دې درې شیانو ته پکې لومړیتوب ورکول شوی، نبي کریم علیه السلام فرمایي:

((ځینې له هغو کارونو او نېکو اعمالو څخه چې وروسته له مړینې هم د مؤمن تر شا ولاړ وي، دا دي: هغه علم چې نورو ته یې ښودلی او خپور کړی وي؛ هغه نېک اولاد چې ترې پاتې وي؛ د قرآن کریم یو مصحف چې د ترکې په ډول یې پرې ایښی وي؛ هغه جومات چې ده ودان کړی وي؛ هغه کور چې د مسافرو لپاره یې جوړ کړی وي؛ هغه سیند چې دی یې د بهېدو لامل ګرځېدلی وي؛ هغه صدقه چې د روغتیا او ژوند پر مهال یې له خپلې شتمنۍ څخه ورکړې وي چې له مړینې وروسته به له ده سره یو ځای شي.)) (۲)

پیغمبر علیه السلام فرمایي:

((هغه څوک چې د یوه غوره کار بنسټ کېږدي، اجر به یې ترلاسه کړي او همدارنګه د قیامت تر ورځې پورې به یې د هغو خلکو اجر هم په برخه وي چې د ده متابعت کوي.)) (۳)

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي:

((بې شکه همدا موږ مړي را ژوندي کوو او هغه څه (عملونه) لیکو چې وړاندې یې لېږلي او چې وروسته یې پاتې دي...))

(یس: ۱۲)

((په هغه ورځ به انسان په مخکې وروسته (ټول) کړي عمل خبر کړی شي.))

(القیامة: ۱۳)

---

[۱] رواه مسلم.
[۲] رواه ابن ماجه.
[۳] رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک په دې یوه خوله دي چې کله یو انسان تر شا یو غوره نوم پرېږدي، دا داسې وي لکه دوهم ژوند یې چې ترلاسه کړی وي، خو دا مهال یو تلپاتې ژوند وي.

په دې کې د حیرانتیا وړ څه نشته چې د انبیاوو پلار ابراهیم علیه السلام، له الله دا غوښتنه وکړه:

((او په وروستیو نسلونو کې د نېکنامۍ یادونه را په برخه کړې.))

(الشعراء: ۸۴)

د هغو دوو کسانو تر منځ لوی توپیر دی چې یو یې کله وفات شي نو زړونه پسې خفه شي، سترګې پسې وژاړي او ژبې یې ستاینه وکړي او له الله نه ورته ښښنه او رحم وغواړي، او دا بل چې کله مړ شي، هېڅوک هم پرې اوښکې نه تویوي، پر تګ یې څوک د غم احساس نه کوي او تر دې چې څوک د رحم او مغفرت دعا هم ورته نه غواړي. وروستی کس د هغه چا استازولي کوي چې په کارونو کې یې ناړامي کړې او تر شا یې داسې څه نه دي پرې ایښي چې خلک یې پرې یاد کړي. ښایي دی د هغه چا استازیتوب هم وکوي چې لویې او تېری کوونکی وي. قرآن د همداسې شخص په اړه په لاندې آیت کې څرګنداوی کړی، فرمایي:

((څومره باغونه او چینې یې پرېښودې؟ او کروندې او غوره – ښکلي ځایونه (استوګنځي)؟ او (ډېر داسې) نعمتونه چې دوی یې په مزو کې وو. همداسې وشول او هغه (شیان) مو بل قوم ته په میراث ورکړل. خو نه آسمان او ځمکې پرې وژړل او نه دوی ته څه مهلت ورکړی شو.))

(الدخان: ۲۵ – ۲۹)

کله چې دا ډول خلک ومري، نو سمدلاسه د خپلو پلویانو داسې ډله تر شا پرېږدي چې د دوی تېري، سرغړونې، بې لاریتوب او ګناوې په میراث ور پاتې وي.

که یو څوک د یو غوره کار بنیاد کېږي، اجر به یې ورکول کېږي او ورسره به د هغو خلکو اجر هم د قیامت تر ورځې پورې ترلاسه کوي چې په دې نېک کار کې یې د ده متابعت کړی وي؛ بل لور ته هغه چې د یوه ناوړه کار بنسټ ږدي، د دې ګناه سزا به ګالي او د هغو خلکو وبال به یې هم پر غاړه وي چې په دې کار کې یې د ده لار تعقیب کړې وي.

څومره د تأسف او بدمرغۍ ځای دی هغو خلکو له چې تر خاورو لاندې خښ شي خو د هغوی ناوړه کارونه، ناسمې ویناوې او بې لارې کوونکي نظریات په کتابونو، سریالونو، کېسټونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ريکارډونو او فلمونو کې ښودل کېږي چې زړونه او ذهنونه داسې ويجاړوي لکه اور چې ځځلې او لرګي سوځوي.

يو نېک انسان وايي: ((ځومره بدبختي او بدمرغي ده هغه چا لپاره چې مړ شي او ګناوې يې هم ورسره مړې شي، او ځومره د بدمرغۍ ځای دی چې يو څوک مړ شي او ګناوې يې تر شا ژوندۍ پاتې وي!))

## د وخت وژنې له ناروغۍ ځان خبر کړئ

ډېرې داسې بې ځايه کارونه شته چې که يو څوک يې له ضرر او خطر څخه ناخبره وي، نو د انسان وخت ور ضايع کوي. لاندې پر همدې ټکو بحث شوی:

١- بې پامي: بې پامي يوه داسې ناروغي ده چې زړه او ذهن په داسې ډول اغېزمنوي چې له پېښو، تر دې چې د شپې او ورځې له اوښتون، د شيانو له هدف او معنا، او د چارو او مسايلو له پايلو څخه يې ناخبره ساتي او ترې غافلوي يې. په بل عبارت، نه پاملرنه يا بې پامي د انسان پام د باطن پر ځای ظاهر، د حقيقت پر ځای صورت، د داخل پر ځای خارج او د پای پر ځای پيل ته اړوي.

قرآن عظيم الشان خلکو ته د بې پامۍ او غفلت پر وړاندې خبرداری ورکړی، په دې چې هغه خلک چې په دې ناروغۍ اخته وي، د دوزخ خاشاک دي او له څارويو هم زيات ګمراه او بې لارې وي.

> ((او رښتيا چې په پېريانو او انسانانو کې مو ډېر (خلك) د جهنم لپاره پيدا کړي دي، د هغوی زړونه شته خو فکر نه وربانديې کوي او د هغوی سترګې شته خو څه وربانديې نه ويني او غوږونه يې شته خو څه پرې نه اوري، دا خلك د څارويو په شان دي، بلکې زيات بې لارې، همدوی په خپله غافلان دي.))
>
> (الاعراف: ١٧٩)

په يوه بل آيت کې الله تعالی هغه خلک غندلي چې يوازې د علم ظاهر ته پام کوي او له اصلي حقيقت او ارزښت څخه يې مخ اړوي. الله تعالی فرمايي:

> ((... خو زياتره خلك نه پوهېږي. د دنيا په ظاهري ژوندون پوهېږي خو بيا همدوی له آخرته غافل (ناخبره) دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(الروم: ٦ – ٧)

او هماغه لوړ ذات پیغمبر علیه السلام ته فرمايي:

((او خپل رب دې په زړه کې له زارۍ او وېرې سره او په ژبه له ورو اواز سره سهار او ماښامونو کې يادوه او له غافلانو څخه مه کېږه.))

(الاعراف: ٢- ٥)

په يوه بل آيت کې الله تبارک و تعالی فرمايي:

((... او د داسې کس مه منه چې موږ د هغه زړه له خپله ياده غافل کړی او په خپل هوس پسې روان شوی او کار يې (يو مخ) تباهي او زياتی دی.))

(الکهف: ٢٨)

دا په رښتيا تباهي ده چې خپل امت په داسې جدي او تباه کوونکو کارونو کې اخته وينو، هغه هم بې له دې چې څه عبرت ترې واخلي او يا هڅه وکړي چې له دې حالت څخه ځان وخوځوي. ابو بکر رضي الله عنه به له الله جل جلا له نه په دې ټکو کې دعا کوله: ((اې الله، په غفلت مو مه اخته کوې، په حيرانتيا کې مو مه اچوه او له بې پامۍ مو لرې وساته.))

سهل ابن عبدالله وايي: ((له درې ډوله خلکو سره ملګرتيا مه کوئ: غوړه مالي کوونکي علما، هغه ناپوهه خلک چې د تصوف ادعا کوي او غافل تېری کوونکي.))

٢- ځنډول: يوه بله زيانمنه ناروغي د يوه کار ځنډول او بل وخت ته پرېښودل دي. دا ناروغي هغه مهال زياتوالی کوي چې کله يې انسان د خپل ځان شعار وګرځوي او د طبيعت يوه نه بېلېدونکې ځانګړنه يې وګرځي.

***

هر شبی گویم کـــه فردا ترک این سودا کنم

باز چون فردا شـــود، امروز را فردا کنم

ژباړن

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو عالم يو چا ته د نصيحت پر مهال وويل: ((د كار د ځنډولو له ضررونو خبر اوسه.)) يو بل عالم وايـي: ((ځنډول د شيطان له ځواكونو څخه ده.))

ورځ مو درباندې حق لري او بايد له خپل وس سره سم ګټور علم او غوره كارونه پكې ترسره كړئ، او هېڅكله يـې هم راتلونكي ورځې ته پرې نه ږدئ، كه نه نو اوسمهال به مو له لاسه ووځي او د تېرمهال برخه به مو وګرځي او بيا به مو پښېمانتيا او ژړا هېڅ ګټه هم در ونه رسوي. په بل عبارت، پكار ده چې د سبا ورځې د رېبلو لپاره همدا نن يـې تخم وشيندئ.

***

((دې حقيقت ته رحمان بابا په دې ټكو كې نغوته كړې:

**د تېر عمر ارمان مه كوه رحـــــــــــــمانه**

**چېرې نه وي چې بيا دا ساعت ارمان كړې))**

**ژباړن**

***

په يوه ليک كې محمد ابن سمره يوسف ته وليكل: ((اى وروره! پام كوه چې د كارونو ځنډول دې پر زړه او ځان واكمن نه شي، ځكه چې دا د زوړوالي او تنبلۍ علت، د تباهي او بربادۍ پايله او د هيلو د پای ته رسېدو لامل دی. اې وروره! پاځېږه او در ياد كړه چې څه دې كړي، څه دې له پامه غورځولي او څه دې رېبلي، ځكه هر شی ليكل او شمېرل كېږي. نو مخكې له دې چې مرګ درته راشي، د ښو كارونو او له خپلو تېرو ګناهونو څخه د توبې په لور بيړه وكړه.

## د يوه كار ځنډول لاندې پايلې لېږدوي:

۱- هېڅكله هم په دې نه شئ ډاډه كېدی چې سبا به ژوندي وئ او كه نه. يوه پاچا يو ځل يوه نېک سړي ته د ډوډۍ بلنه وركړه، خو سړي ښښنه ترې وغوښته ځكه روژه يـې نيولې وه. پاچا، سړي ته وويل چې نن يـې وخوره او روژه سبا ته ونيسه، خو سړي ورته وويل: ((آيا دا ډاډ راكولی شې چې سبا ورځ به ووينم؟))

څنګه يو څوک چاته دا ډول ډاډ وركولی شي، په داسې حال كې چې مرګ له هر چا په ډول ډول لاملونو غېږ را تاوولی شي. د طب او ساينس له دومره پرمختګ سربېره هم، ناڅاپي مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پخوا په پرتله لا زيات عام او عادي شوی. طب نه شي کولی يو څوک د زړه د يرغل او يا د وينې د جريان د بندېدو له ناروغۍ څخه وژغوري.

په همدې ډول ساينس د بې شمېره پېښو چې هره ورځ د دې عصر د وسايلو لکه موټرو، الوتکو، ماشينونو او ميخانيکي او برېښنايي توکو له امله د رامنځته کېدونکو مرګونو مخه نه شي نيولی. دا په دې معنا ده چې ساينس پخپله مرګ ته ډول ډول لارې هوارې کړې ځکه چې د ساينس له پرمختګ مخکې انسان له دې وژونکو او ضررې علتونو څخه خوندي او ساتلی وو.

۲- که بيا هم يو څوک دا ادعا لري چې تر سبا به ژوندی وي، نو بيا هم په دې نه شي ډاډه کېدی چې له هر ډول کړاوونو لکه ناڅاپي ناروغيو، ناڅاپي دندو او يا تاواني کېدو څخه به هم خوندي وي. همدا لامل دی چې د ښو کارونو او د خپلو مسؤليتونو د ترسره کولو په لور بيړه د هوډمنتيا نښه ده، حال دا چې ځنډول او د يوه کار بل وخت ته پرېښودل د تنبلۍ او ناړامۍ نښې دي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو کس ته د تبليغ پر مهال وويل:

> ((له پنځو شيانو څخه له پنځو نورو مخکې ګټه واخله: له ژوند څخه مخکې له مړينې، له روغتيا څخه مخکې له ناروغتيا؛ له اوزګارتيا څخه مخکې له بوختيا؛ له ځوانۍ څخه مخکې له زوړوالي او له شتمنۍ څخه مخکې له نېستمنۍ.)) (۱)

يوه زوړ عالم يو ځل يوه ځوان ته وويل: ((کار وکړه مخکې له دې چې هغه وخت درباندې راشي چې بيا يې نه شې کولی، ځکه نن زه غواړم چې کار وکړم خو نه يې شم.))

حفصه بنت سيرين به ويل: ((اې ځوانانو! کار وکړئ! ځکه همدا ځواني ده چې کار پکې کولی شئ.))

۳- هره ورځ خپل کار لري او هر وخت خپل مسؤليتونه، يعنې داسې وخت نشته چې په هغه کې دې کار نه وي. يوه ورځ کله چې پر حضرت عمر بن عبد العزيز د ستړيا او ستومانۍ نښې ښکاره شوې، نو ورته وويل شوو چې د نن کار دې سبا ته وځنډوه. خو هغه ځواب ورکړ: ((زه د يوې ورځې په کار دومره ستومانه شوم، هغه وخت به مې څه حال وي چې د دوو ورځو کار هم يوې ورځې ته وځنډوم.))

---

[1] رواه احمد وغيرهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ابن عطا فرمايي چې په هره شبېه کې خدای دربانديې يو نوی حق او يو نوی حکم لازم کړی چې باید ترسره یې کړئ.**

**۴- د الله د اوامرو ځنډول او د نېکو کارونو بل وخت ته پرېښودل انسان د غفلت لور ته بيايي او کله چې يو عادت پوخ شي، نو هله د انسان د فطرت برخه وګرځي چې بيا ترې ځان خلاصول ناشونی کېږي. په دې ځای کې به انسان د ښو کارونو په لور بېړه کول اړين بولي، خو په ځان کې به پياوړې هيله او قوي هوډ نه ويني چې هغه کار ترسره کړي. بلکې، ځان به ناړامه او له کاره ځان ايستونکی احساسوي او که کومه ورځ يو ګام مخته لاړ هم شي، نو داسې به ورته ښکاري لکه غر يې چې په اوږو بار کړی وي.**

**همدا حالت د توبې په ځنډولو کې هم احساسولی شو، ځکه دا ځل روح د ګناهونو له کولو سره روږدی شوی او د خواهشاتو په اوږو سپور وي او دا به ډېره ستونزمنه وي چې ځان له دې ناروا خوښيو وژغوري ځکه د هرې ورځې په تېرېدو د دې مزو - چړچو په خوا ور نږدې کېږي او په خوند او ورسره عادت کېدو کې يې زياتوالی راځي. او په دې ډول په روح يې په بشپړ ډول تياړې برلاسې شي او د نېغې لارې د وړانګو يوه هيله يا ځرک هم په لاس نه ورځي. د ترمذي روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:**

> **((بې له شکه چې کله يو انسان ګناه ترسره کړي، نو په زړه کې يې د تور داغ ښه غوره کړي؛ که چېرې توبه وباسي، ګناه پرېږدي او له الله بښنه وغواړي، نو هغه داغ به يې لرې شي، خو که چېرته يې په ګناهونو ټينګار او دوام وکړ، نو دا (تور داغ) يې ورو ورو لويوالی مومي، تر دې چې الله يې په همدې توروالي زړه ور پټ کړي. او دا هماغه زنګ دی چې الله تعالی پخپل کتاب کې ياد کړی:**
>
> **((هېڅکله نه، بلکې د دوی په زړونو هغو عملونو زنګ اچولی چې هغوی به کول.)) (۱)**

**۵- کار کول پر هر ژوندي انسان لازم او ضروري دی هغه که ديني وي يا دنيوي، او هغه انسان چې کار نه کوي د ژوند کولو حق هم نه لري. يو اسلامي متل دی چې: ((د ژوند لپاره دې کار وکړه، هسې لکه د تل لپاره چې ژوندی يې او د آخرت لپاره دې کار وکړه، هسې چې همدا سبا مرې.))**

---

[1] سورة المطففين: ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د وخت رټل: پر وخت ملامتیا او د وخت له ظلم او تېرې څخه شکایت یوه ډېره ناوړه ناروغي او له ناړامۍ ډک چلند دی. ځیني خلک ښایي تر دې بریده وانګېري چې وخت ظالم دی چې پر دوی ظلم کوي، دښمن یې دی چې د یرغلګر په توګه ورته ناست دی، جابر واکمن دی چې بې وسه او بې ګناه خلکو ته سزا ورکوي او له سرغړوونکو او مجرمانو سره روغ چلند کوي ځکه دا چاره خوښي ور ښښي.

خو حقیقت دا دی چې خلک د برخلیک اړوند نظریې پورې په ځان تړلو کې افراط کوي، تر څو له ملامتیا ځان وباسي او یا د خپلو تېروتنو د پایلو له ګاللو څخه ځان تېر باسي. او په دې ډول د خپلو ناسمو کارونو مسؤلیت پر وخت، برخلیک، تقدیر او حالاتو ور اچوي.

د دې پر ځای به دا غوره وی چې په دې یې فکر کړی وی چې څه ور پېښ شوي او په دقت یې تحلیل او تجزیه کړي وی چې دا د کومو کارونو پایله او د کومو اعمالو لاسته راوړنه ده. ځکه وخت په هېڅ کار کې هم لاس نه لري، ځکه وخت یوازې د هغو پېښو یو زېرمتون دی چې د الله تعالی له خوښې سره سم رامنځته کېږي. همدا لامل دی چې پیغمبر علیه السلام فرمایي:

((زماني ته کنځلې مه کوئ، ځکه زمانه یقیناً الله ده.)) (۱)

یعنې دا الله ده چې د وخت نورمونه او چارې ټاکي او هماغه ذات دی چې د دې واک یې په لاس کې دی.

کله چې مسلمانانو د احد په غزا کې ماتې وخوړه او اویا مسلمانان پکې شهیدان شول، نو هغوی د ماتې علت ته حیرانه وو، دا په داسې حال کې چې پیغمبر علیه السلام هم په غزا کې ورسره موجود وو، د دې ځواب الله تعالی په دې آیت کې ورکړ، فرمایي:

((ایا نو کله چې یو مصیبت در ورسېد چې د هغه دوه برابره مو
(دښمن ته هم) ور رسولی دی نو ویل مو: دا له کومه؟ ورته وایه دا
مو له خپلو ځانو، یقیناً الله خو په هر څه وسي دی.))

(آل عمران: ۱٦٥)

قرآن کریم همدا اصول وړاندې کوي، فرمایي:

---

[۱] رواه مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((دا ځکه چې الله هېڅکله د هغه نعمت بدلوونکی نه دی چې په کوم
قوم یې پېرزو کړی وي تر هغه چې هغو خپله کړنلاره نه وي بدله
کړې او دا چې یقیناً الله ډېر پوه اورېدونکی دی.))

(الانفال: ۵۳)

له انسانانو سره دا ډېر وړ برېښي چې د وخت د رټلو او ملامتولو پر ځای ځان ملامت کړي، تر ځو هغه څه ورغوي چې کاږه کړي یې دي او فساد یې پکې کړی.

نو یو ښه مسلمان هغه څوک دی چې کله کوم کړاو ور ورسېږي، له ځان پرته بل څوک نه ملامتوي، توبه وباسي او له الله ښښنه غواړي، کټ مټ هماغسې چې آدم او حوا علیهما السلام وکړل چې کله یې له جنت څخه را وایستل، نو ویې ویل:

((...زموږ ربه! پر خپلو ځانو مو ظلم کړی او که ته مو ونه ښښې او
رحم را باندې ونه کړې، نو موږ به خامخا له تاوانیانو یو.))

(الاعراف: ۲۳)

یو ښه مسلمان باید د موسی علیه السلام په خبر ووایي چې کله ښېرته راوګرځېد او خپل قوم یې د یوه خوسکي په عبادت وموند:

((موسی وویل : زما ربه! ما او ورور مې وبښې او په خپل رحمت کې
مو داخل کړې او ته له ټولو زیات رحم کونکی یې.))

(الاعراف: ۱۵۱)

ښه به وي چې د هغو متقیانو خبره وکړي چې کله یې لوی شمېر ووژل شوو، نو ویې ویل:

((او له دې پرته یې بله خبره نه وه چې ویل به یې: اې زموږ ربه
ګناهونه مو راته وبښه او په خپلو چارو کې زموږ تېری، زیاتی
(راوبښې) او پښې مو ټینګې کړې او پر کافر قوم مرسته (برې) را.))
نو الله هغوی ته په دنیا هم بدله ورکړه او په آخرت لا غوره ثواب، او
الله همداسې نېکان خوښوي.))

(آل عمران: ۱۴۷ – ۱۴۸)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

# که مقصود لرې تلوار کړه وخت کوتاه دی
# غره مه شـــــــــــه د دې عمر په بقا

***

پای

آر. اېس. فراز

احمد شاه بابا مېنه، کابل - افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**